# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۹ ګڼه / یکشنبه ۰۸ ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰۷ جوزا ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۸ می ۲۰۲۳ میلادي


## ترکمنستان کې د اسلامي امارت تجارتي آتشې دنده پيل کړه

په ترکمنستان کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت چارواکو ویلي چې محمد هارون سیدي يې د تجارتي آتشې په توګه معرفي او کار يې پيل کړ.

په ترکمنستان کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په همدې موخه په عشق آباد کې په جوړه شوې غونډه کې ګڼ شمېر افغان سوداګرو او د تلفون له لارې د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدين عزيزي هم ګډون کړی و.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې په نورالدين عزيزي له ټولو سوداګرو او پانګه والو مننه وکړه او ويې ويل، چې ملي سوداګرو او پانګه والو ملت يوازې نه دی پرې ايښی او تل يې خپله دنده په ښه توګه ترسره کړې ده.

دې غونډه کې په ترکمنستان کې د افغانستان اسلامي امارت د سفارت سرپرست فضل محمد صابر افغانستان او ترکمنستان د دوست هېواد ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو او همکاريو په پراختيا ... ۷مخ

## مولوي اميرخان متقي د ايران سفير ته:
# پر افغان بنديانو دې د اعدام حکم ونه ځنډول شي



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت سرپرست مولوي امير خان متقي پرون په کابل کې د ايران له سفير حسن کاظمي قمي او د هغه له مرستيال سره په کتنه کې د دوو ارخيزو اړيکو پر پياوړتيا، په ايران کې د محکومو افغان بنديانو د اعدام پر ځنډولو او يو شمېر نورو موضوعاتو خبرې کړې دي.

د بهرنيو چارو وزارت د وياند مرستيال حافظ ضياء احمد په خپله ټويټر پاڼه ليکلي، چې په دغه کتنه کې حسن کاظمي قمي د دوحې ... ۷مخ

## ملي تدارکاتو کمېسيون د نهو پروژو قراردادونه منظور کړل



د رياست الوزرا د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر آخوند په مشرۍ، پرون د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه.

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د يوې خبرپاڼې ۷مخ

## د افغانستان او ايران پر پوله د شخړې په تړاو د ملي دفاع وزارت غبرګون

د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت د افغان او ايراني خواکونو ترمنځ د سرحدي جګړې په اړه وضاحت ورکړی چې پرون يوځل بيا د افغانستان د نيمروز ولايت د کنګ ولسوالۍ اړوند سرحدي سيمو باندې ايراني عسکرو له لوري ډزې پيل شوې او جګړه ونښته.

اسلامي امارت د هرې ستونزې د هوارولو لپاره خبرې اترې يوه معقوله لار ګڼي، منفي اقدامات او د جګړې لپاره بهانې لټول د يوه لوري په ګټه هم نه دي.

## نصب ٤٤ پایه آنتن مخابراتی در پنج ولایت شمالی



اداره اترا در شمال کشور می‌گوید که ٤٤ پایه آنتن مخابراتی جدید در ولایات بلخ، جوزجان، سمنگان، فاریاب و سرپل فعال می‌شوند.

محمد ثابت نعمان، رئیس اترا در شمال گفت که این آنتن‌ها در ساحاتی نصب ... ص۷

## د چين سفير:
## نړۍ دې د کلتوري ميراثونو په ساتنه کې افغانستان سره همکاري وکړي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خيرالله خيرخواه پرون په خپل کاري دفتر کې د چين له سفير وانګ يو سره په کتنه کې وويل، چې د هېواد تاريخي او کلتوري ميراثونو ساتنه د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لومړيتوبونو څخه ده.

د يادې کتنې پيل کې د چين سفير وويل: موږ د افغانستان استقلال، ارضي تماميت او ملي ارزښتونو ته درناوی لرو او .... ۷مخ

## د وسپنې پټلۍ له لارې نږدې ۴۲۸ زره ټنه انتقالات شوي

په تېره مياشت کې د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۴۲۷ زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د اوسپنې پټلۍ اداره وايي، چې .... ۷مخ



## د طبيعي پېښو له امله ۴۲ تنه مړه شوي

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وايي، په تېره يوه مياشت کې د هېواد په ديارلسو ولايتونو کې د طبيعي پېښو له کبله ۴۲ کسان مړه شوي او ۴۵ نور ټپيان شوي دي. د دې وزارت وياند په يوې ويډيو کې ويلي، دغو کسانو ته په کاپيسا، ميدان وردګ، تخار، بدخشان، غور، کندهار، کونړ،



نورستان، لغمان، پکتيا، خوست، دايکندي او ننګرهار ولايتونو کې مرګژوبله اوښتې ده. نوموړي وايي، پېدې مهال کې د طبيعي پېښو له کبله ۳۴۱ کورونه په نيمه او بشپړ ډول ويجاړ شوي او همداراز ۱۹۵۷۳ جريبه کرنيزه ځمکه، ميوه لرونکي بڼونه او ۱۳۵۴ څاروي هم له منځه تللي دي.

## کورنيو چارو وزارت:
## ۹ زره هکتاره ځمکه له کوکنارو پاکه شوې



کورنيو چارو وزارت وايي، اسلامي امارت له نشه يي توکو سره مبارزې ته ژمن دی او هېچا ته به اجازه ورنکړي چې په هېواد کې د کوکنارو کښت او نشه يي توکو قاچاق وکړي.

د کورنيو چارو وزارت د نشه يي توکو پر وړاندې د ... ۷مخ


معاهده آب هلمند و تجاهل عارفانه مقامات ایرانی
صفحه ۲

د نمرو وېش؛ څوک کامياب او څوک ناکام دي؟
صفحه ۲

له اسلام څخه مخکې د ښځو حقونه
٤ مخ


## سرمقاله
# قبل از وقوع حوادث، حوادث را مهار کنید

افغانستان کشوریست محاط به خشکه که میزان بروز حوادث طبیعی مانند زلزله، برف‌کوچ، رانش زمین، طوفان و سیل در این کشور بالا است و همه ساله حوادث طبیعی از مردم افغانستان قربانی می‌گیرد.

بارندگی‌های اخیر در شماری از ولایت‌های کشور سبب تلفات جانی و مالی شهروندان کشور گردیده است، مسئولان در اداره مبارزه با حوادث طبیعی امارت اسلامی اعلام کردند که دست‌کم ٤۲ نفر در اثر جاری شدن سیلاب‌ها در مناطق مختلف افغانستان شهید و هشت نفر دیگر زخمی و مناطق وسیعی از زمین‌های زراعتی و منازل نیز تخریب شده‌اند.

گفتنیست این سیلاب‌ها در ولایت‌های وردگ، لغمان، پکتیکا، خوست، ننگرهار، دایکندی، غور و قندهار تلفات و خساراتی مالی و جانی را به بار آورده است به گفته رسانه‌ها ٥٦ منزل به طور کامل تخریب و ٥٤ منزل دیگر نیز آسیب دیده است.

هر چند شهروندان مناطق آسیب دیده خواستار کمک‌های به موقع شده‌اند، اما مقام‌ها در اداره مبارزه با حوادث طبیعی گفته‌اند که آن‌ها در حال همکاری با آژانس‌های امداد رسان برای ... ص۷

## پکتيا کې د يو سړک جوړولو چارې پيل شوې

د پکتيا د کليو، بيا رغونې او پراختيا رياست مسوولين وايي، چې د دغه ولايت د مرکز ګرديز ښار اړوند د حسنکۍ کلي پر فرعي سړک د جغل اچولو چارې پيل شوې دي.

د دغه ولايت د کليو، بيا رغونې او پراختيا رياست مسوولينو په وينا، چې دغه سړک ۴ زره ۱۸۰ متره په اوږدوالي او ۳ متره سور په لرلو سره د پاملرنې موسسې په مالي ملاتړ جغل اچول کېږي، چې چارې به يې د ۳۶ ورځو ... ۷مخ

## برای ده‌ها کودک در هرات زمینه آموزش حرفه فراهم گردید

مسوولان ریاست کار و امور اجتماعی هرات، از فراهم سازی زمینه‌ی آموزش فن و حرفه برای ۱۰۰ طفل نیازمند در ولسوالی غوریان خبر می‌دهند.

به گفتهٔ مسوولان، در ولسوالی غوریان برای ۱۰۰ طفل نیازمند پس از سروی، در بخش خیاطی زمینه آموزش از سوی بنیاد عاطفی فراهم شده است.

عبدالظاهر ارشاد معاون بنیاد عاطفی در هرات می‌گوید این بنیاد با برنامه‌های مختلف که در سطح ولایت هرات در بخش‌های گوناگون اجرا می‌کند این بار برای ۱۰۰ کودک در بخش ... ص۷

## ننګرهار کې زرګونه تنو ته د کار زمينه برابره شوې

د ننګرهار د کليو، بيا رغونې او پراختيا رياست مسوولين وايي، چې د افغانستان لپاره د ټولنيز معيشت پروګرام له لارې د دغه ولايت په خلورو ولسواليو کې زرګونه تنو ته د کار زمينه برابره شوه.

د دغه ولايت د کليو، بيا رغونې او پراختيا ريس مولوي قسمت الله مبارز وويل، چې د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري په مالي ملاتړ د دغه ولايت په رودات، کوټ، مهمندرې او پچيراګام ولسواليو کې د ټولنيز معيشت پروګرام له لارې د سړکونو بيارغول، کانالونو پاکول، پُلکټو جوړول، کانالونو ويستل، لارو جوړول او نور کارونه شامل دي. مبارز زياته کړه، چې په دغو چارو کې د يادو ولسواليو ۴ زرو تنو ته د کار زمينه برابره شوې ده.

## جذب شماری از جوانان داوطلب پنجشیری به صفوف نیروهای وزارت دفاع ملی



وزارت دفاع ملی می‌گوید روند جذب شماری از جوانان داوطلب پنجشیر به صفوف نیروهای وزارت دفاع ملی تکمیل شد.

وزارت دفاع ملی ... ص۷

## گشایش شفاخانه‌ی درمان معتادین در جاغوری غزنی

شفاخانه‌ی بیست بستر درمان معتادین در ولسوالی جاغوری غزنی گشایش یافت.

ساختمان این شفاخانه، در گذشته از تاسیسات وزارت صحت عامه در جاغوری بود و اکنون این وزارت، آن را با وسایل طبی تجهیز و به شفاخانه‌ی درمان ... ص۷



# معاهده آب هلمند و تجاهل عارفانه مقامات ایرانی

**ابوالیاس جهادوال**

با وجودی‌که جنجال حق آبه میان ایران و افغانستان تاریخ دست کم ۱۵۰ ساله داشته و از سال ۱۸۷۲ میلادی به نحوی از انحا ادامه دارد اما در همین روزها شکل و صورت تازه‌یی به خود گرفته است که واکنش‌های مقامات ارشد ایرانی و امارت اسلامی را نیز به همراه دارد.

معاهده ماه مارچ سال ۱۹۷۲ ( ۱۳۵۲ هـ ش) آب هلمند میان نخست وزیران دو کشور با وجودی‌که راه‌حل بنیادی برای این معضل شمرده می‌شود که هنوز هم هردو کشور خود را ملزم به تطبیق آن می‌داند، اما به اثر کودتاه خونین ۷ ثور ۱۳۵۷ هـ ش و سپس تجاوز قشون بر افغانستان، نه تنها اینکه به‌گونه عملی تطبیق نشد، بلکه ایران با استفاده از این بی ثباتی سالیان سال بیشتر از حد معین در معاهده (۸۲۰ میلیون متر مکعب در سال) بیش از میلیارد مکعب آب افغانستان استفاده کرد و بدون هماهنگی با جانب افغانی سرمایه زیادی در این بخش هزینه کرد.

کشور ایران برای استفاده این سرمایه نامشروع افغان‌ها تلاش‌های زیادی را برای تداوم بی‌ثباتی و جنگ در افغانستان نیز انجام داده است که حمایت مالی و تسلیحاتی آن‌کشور از برخی جنگجویان مشخص در زمان جنگ‌های تنظیمی و حمایت از عناصر و جنگجویان موسوم به «جبهه متحد شمال» در برابر امارت اسلامی از هیچ‌کس پوشیده نیست.

هم‌چنان ایران در زمان جمهوریت قلابی حامد کرزی و اشرف غنی نیز تلاش‌های زیادی در راستای جلوگیری از تطبیق پروژه های مدیریت آب در افغانستان انجام داد که ارسال خریطه‌های پول به ارگ ریاست جمهوری توسط محمد عمرداوودزی سفیر افغانستان در تهران و حمایه برخی حلقات مشخص همه و همه برای تطمیع مقامات کابل و جلوگیری از تطبیق پروژه های آب بود که خان‌محمد تکل مسوول اداره تنظیم آب حکومت اشرف غنی نیز طی مقاله‌یی « زمورِ او به زمورِ عزت» که در برخی از شبکه‌های اجتماعی بازتاب یافته است از فشارهای حلقه دورن حکومتی ایران برای جلوگیری از تطبیق پروژه های مدیریت آب اشاره نموده است که در نتیجه این فشار پروژه‌های اعمار بند کمال خان و سلما سالیان سال دوام نموده و تا اخر عمر حکومت جمهوریت به بهره برداری سپرده نشد.

با حاکمیت دوباره امارت و تأمین ثبات سراسری که پس از دهه‌ها زمینه پیشرفت اقتصادی و تطبیق پروژه‌های زیربنایی در کشور فراهم گردید، مقامات امارت اسلامی روند تطبیق برخی از پروژه‌های مدیریت از جمله اعمار بند بخش آباد و تکامل بند کمال خان را آغاز نموده است که این کار، واکنش برخی از مقامات ایرانی را برانگیخته است.

سیدابراهیم رئیسی رئیس جمهور ایران طی سفری به سیستان و بلوچستان در ۲۸ ثور سال جاری با لحن اخطار آمیز خواهان دریافت حق‌آبه ایران از مسوولان امارت اسلامی افغانستان شد.

هم‌چنان وزارت خارجه ایران با صدور اعلامیه‌یی خواهان بازدید هیأت ایرانی از کاسه آب کجکی شد، که از منابع آبی دریای هلمند سرچشمه می‌گیرد.

احمد وحیدی وزیر داخله ایران نیز خواهان بازدید مقامات مسوول و کارشناسان ایرانی از سدها شده است.

هم‌چنان در این آواخر خبرگزاری ایرنا تصاویر ماهواره‌ای از میزان آب در بندهای افغانستان را منتشر کرده و نوشته است که این تصاویر مقادیر قابل توجهی آب در بندهای کجکی و کمال‌خان را نشان می‌دهد.

با وجودی‌که این مقامات ایرانی ملاک گفته‌های خود را « معاهده آب هلمند» می‌دانند، اما با تجاهل عارفانه این را توضیح نمی‌دهند که بر مبنای کدام ماده این معاهده همچو تقاضاها را از مقامات افغان دارند؟

با توجه به مفادات معاهده هلمند، هیچ‌گونه ذکری از سطح آب بندهای کمال‌خان و کجکی نشده است بلکه مطابق بند «ج» ماده اول این معاهده «یک «سال نورمال آب» عبارت از سالی است که مجموع جریان آب از اول اکتوبر تا ختم سپتامبر سال بعد در موضع دستگاه آب‌شناسی دهراود بررود هیرمند (هلمند) بالاتر از مدخل بندکجکی چهار میلیون و پنجصدو نود هزار ایکرفیت (۴۵۹۰۰۰۰ ایکرفیت) (۵۶۶۱/۷۱۵ میلیون مترمکعب) اندازه‌گیری و محاسبه شده است.» که قرار اطلاعات اخیر از دستگاه آب‌شناسی دهراود که اکنون به‌گونه نورمال فعالیت دارد، سطح آب به حد « سال نورمال آبی» نرسیده است.

با وجودی‌که امارت اسلامی در پاسخ به این اظهارات مقامات ایرانی با صدور اعلامیه‌یی گفته است که متعهد به معاهده ۱۳۵۲ هـ ش بوده و همچو اظهارات مقامات ایرانی را احساساتی و بدور از واقعیت تلقی نمود. هم‌چنان امیرخان متقی، سرپرست وزارت خارجه نیز از تهران همچنان خواست تا مسأله‌ی حق‌آبه را سیاسی نسازند و اختلاف‌ها در این زمینه از راه گفت‌وگو حل نمایند.

افغانستان که با داشتن ۱۱ رود بزرگ و کوچک سرچشمه رودخانه‌های مهمی چون «جیحون»، «پنجاب»، «سند»، هیرمند، «هریرود» و «مرغاب» شمرده می‌شود اما بنابر نبود مدیریت لازم سالانه به ارزش ۷۵ میلیارد دالر آب خود را ضایع می‌سازد. این کشور حق دارد تا در پرتو قوانین بین‌المللی آب‌های خود را مدیریت نموده و در رشد و شگوفایی اقتصادی کشور از آن استفاده نماید.

**آگاهان روابط بین‌الملل:**

# همسایگان نباید در ناامنی‌های داخلی‌شان امارت اسلامی را مقصر بدانند

در پی اظهارات وزیر خارجه پاکستان مبنی بر اینکه تهدید تحریک طالبان پاکستانی از خاک افغانستان مانع گسترش روابط پاکستان و افغانستان شده و دوام این اوضاع چالش‌های بیشتری به میان خواهد آورد، آگاهان روابط بین‌الملل می‌گویند که رهبران کشورهای منطقه بخصوص پاکستان نباید امارت اسلامی را مقصر ناامنی‌های داخلی‌شان بدانند، زیرا لانه‌های اصلی گروه‌های تروریستی خارج از مرزهای افغانستان می‌باشد.

به گزارش «آوا»، بلاول بوتو زرداری، وزیرخارجه پاکستان «جمعه ۵ جوزا» در کمیته روابط خارجی مجلس سنای این کشور گفته است: تهدیدهای هراس‌افگنی تحریک طالبان پاکستانی اگر از سوی امارت اسلامی و جهان جدی گرفته نشود پیامدهای فاجعه‌باری به دنبال خواهد داشت.

احمد بلال علیزی، آگاه روابط بین‌الملل در صحبت با آوا گفت: رهبران کشورهای منطقه بخصوص پاکستان نباید بخاطر ناامنی در کشورهای‌شان، امارت اسلامی را مقصر بدانند، زیرا لانه‌های اصلی گروه‌های تروریستی خارج از مرزهای افغانستان می‌باشد.

او افزود: مقامات حکومت پاکستان با اظهارات نادرست‌شان مبنی بر حمایت امارت اسلامی از تحریک طالبان پاکستان، می‌خواهند به جهان بگویند که گروه‌های تروریستی در خاک افغانستان حضور دارند، تا خودشان را برائت بدهند.

علیزی، با ابزار اینکه مردم پاکستان به دلیل فساد گسترده در دستگاه دولتی این کشور از حکومت فاصله گرفته‌اند، علاوه کرد که مسبب اصلی ناامنی و بحران سیاسی و اقتصادی در پاکستان رهبران حکومت‌اند که بیش از چند دهه قدرت سیاسی را در اختیار دارند.

این آگاه روابط بین‌الملل خاطرنشان ساخت: مقامات حکومت پاکستان بجای اینکه کشورهای دیگر را متهم در ناامنی کشورشان کنند، بهتر است که برای بهبود شرایط داخلی‌شان کار کنند و اختلافات خود را با تحریک طالبان حل نمایند.

در همین حال عبدالشکور سالنگی، آگاه روابط بین‌الملل نیز در صحبت با آوا گفت: اختلافات خرُد بر سر گروه تحریک طالبان پاکستانی (تی‌تی‌پی) و بعضی مسایل مرزی، سبب قطع روابط افغانستان و پاکستان نمی‌شود، زیرا سیاستمداران پاکستانی به این درک رسیده‌اند که قطع روابط باعث گسترش فعالیت گروه‌های تروریستی در مرزهای هر دو کشور می‌شود.

او با بیان اینکه روابط خوب میان پاکستان و افغانستان به نفع هر دو کشور است، تصریح کرد که مردم افغانستان و پاکستان از نگاه فرهنگی مشترکات زیادی دارند و همچنان افغانستان نسبت به دیگر کشورهای همسایه خود طولانی‌ترین مرز را با پاکستان دارد.

این آگاه روابط بین‌الملل اضافه کرد که افزایش ناامنی و وضعیت کنونی در پاکستان نتیجه‌ی سیاست چند دهه‌ای اسلام‌آباد بوده است، مقامات این کشور به جای زورگویی و تهدید، برای ثبات منطقه گام‌های هوشیارانه بردارند.

همچنان سخنگوی امارت اسلامی در واکنش به اظهارات وزیر خارجه پاکستان، موضوع تحریک طالبان پاکستانی را مسأله‌ای داخلی این کشور خوانده و افزوده است که از خاک افغانستان در برابر هیچ کشوری کار گرفته نخواهد شد.

ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی، گفته است که امارت اسلامی افغانستان کنترول کامل بر وضعیت دارد، دیگر کشورها به شمول پاکستان باید مسایل داخلی خود را به افغانستان نسبت ندهند و تلاش بورزند تا مسایل داخلی خود را در داخل کشورشان حل کنند.

او علاوه کرده است که موضوع تحریک طالبان پاکستان موضوع داخلی آن کشور است و از این جهت باید این موضوع در داخل آن کشور حل شود.

این در حالی است که مقامات پاکستانی می‌گویند تحریک طالبان پاکستان مکان‌های امنی در داخل افغانستان دارند و از آن سوی مرز برای حمله به پاکستان می‌روند، اما طالبان پاکستانی گفته‌اند که حملات خود را از داخل پاکستان هماهنگ می‌کنند.

# الکتریک یا برق

**محمد فیاض استاد دیپارتمنت مخابره وکمپیوتر**

حرکت الکتریک ها درسیم یا ناقل عبارت از حرکت الکترون میباشد. الکترونها یکی از عناصر فعال اتوم میباشد و خورد ترین ذرۀ یک عنصررا اتوم گویند. در طبیعت تا حال توسط دانشمندان در حدود (۱۱۸) عنصر کشف شده است. که تمام مواد طبیعت از همین (۱۱۸) عنصروترکیبات شان (مالیکول ها) ساخته شده اند. پس اتوم ها و مالیکولها ساختمان تمام اجسام و اشیای طبیعت میباشد.تمام اجسام جهان از ذرات بسیار کوچکی تشکیل شده اند که آنها را اتوم مینامند هوای که تنفس میکنیم همگی از اتوم ها ساخته شده. اتوم بسیار کوچکتر ازآن است که بتوان آنرا دید. دیدن آن حتی با قوی ترین مکروسکوپ یا ذره بین هم ممکن نیست ما نمیتوانیم با هیچ یک از حواس پنجگانه خود اتوم را حس کنیم واتوم را چنین توصیف کرده اند.اتوم یک ذره مرکزی بنام هسته و ذرات کوچک دیگری بنام الکترون درمدارخود دارد که با سرعت سرسام آوری دورهسته می چرخد و الکترون خیلی ها سبک بوده. یعنی روشن است که با هیچ ترازویی نمیتوان آنرا وزن کرد سرعت الکترون ها در سیم تقریبا (۲۸۰۰۰۰ km/sec) کیلو متر در فی ثانیه میباشد.قطر الکترون به اندازه چهارصد میلیارد دفعه کوچکترازیک ملی متر از طرف دانشمندان تخمین شده است. واضع است که با پیشرفته ترین ذره بین ها هم نمیتوان الکترون ها را دید.هسته اتوم به طورعموم از دو ذره عمده بنام پروتون ونیوترون تشکیل شده است. هر چه تعداد ذرات کوچک هسته بیشتر باشد اتوم سنگین تراست.سبکترین اتوم یعنی اتوم هایدروجن است که تنها یک پروتون دارد و یک الکترون که در مداری به دورخود میچرخد. هر یک از انواع اتوم ها را میتوان به کمک تعداد ذره ها یشان از یکدیگر تشخیص داد. جسمی را که فقط از یک ماده اساسی ساخته شده باشد بنام عنصر مینامند. دانشمندان دریافته اند که الکترون ها همواره چارچ الکتریکی منفی دارند ، وپروتون ها همواره چارچ الکتریکی مثبت. اما نیوترون ها بر خلاف هر دو ذره یاد شده چارچ الکتریکی ندارند وبه این دلیل از نظر الکتریکی خنثی به شمار میروند.معمولاً هر اتوم دقیقاً به تعداد پروتون هایش، الکترون دارد از اینرو چارچ های الکتریکی مثبت و منفی هر اتوم مساوی است. در چنین صورتی چارچ های الکتریکی مثبت و منفی یکدیگر را خنثی میکنند. به این دلیل اتمی که دارای تعداد مساوی پروتون و الکترون باشند از نظر چارچ الکتریکی خنثی است. رفتار چنین اتومی در واکنش ها اینطور است که گویی نه چارچ الکتریکی مثبت دارند و نه چارچ الکتریکی منفی. برخی از عناصر، در اثر عواملی از قبیل فشارمالش یا گرما به ساده گی از آخرین مدار خود یک یا چند الکترون از دست میدهند. هر گاه اتومی، الکترون از دست بدهد چارچ مثبت آن نسبت به چارچ منفی زیادتر میشود چون تعداد پروتون های آن بیشتر از تعداد الکترون هایش است. در این حالت میگویند، اتوم چارچ مثبت دارد. برعکس عناصری هستند که الکترون جذب میکنند هرگاه این اتفاق بیفتد چارچ الکتریکی منفی اتوم نسبت به چارچ الکتریکی مثبت آن بیشتر میشود در این حالت میگویند اتوم چارچ الکتریکی منفی دارد. حتماً دیده اید که هنگام شانه زدن موها جذب شانه میشوند یا هنگامیکه پیراهن نایلونی یا جاکت پشمی خود را به سرعت از تن در می آورید گاهی صدای جرقۀ زدن را به وضوح شنیده اید. بدن ما هنگام راه رفتن روی فرش که از مواد پلاستیکی ساخته شده است الکترون جذب میکند یعنی دارای چارچ الکتریکی شده در ین مواقع اگر دستگیر دروازه یا فلزاد را بگیریم اغلب تخلیه الکترونیکی صورت میگیرد و حتی جرقۀ مرئی ضعیف ولی بی خطر نیز ایجاد میشود، علت این پدیده ها اینست که هر جسمی به طور طبیعی از نظر چارچ الکتریکی خنثی است. اگر در این وضعیت اختلال پیش آید یعنی دارای چارچ منفی یا مثبت شود. فعل و انفعالاتی صورت میگیرد تا هر چه زودتر، دوباره بین چارچ منفی و مثبت تعادل ایجاد شود. الکتریک که در پدیده های یاد شده ایجاد میشود الکتریک ساکن (static) نامیده میشود.

جریان برق

حرکت الکترونها توسط چشم دیده نمیشود ولی تاثیرات آنرا دیده وحس کرده میتوانیم. بعضی عناصر از اثر عواملی چون حرارت و فشار با مالش الکترون های شانرا از دست میدهید.مثلاً زیاد شدن حرارت در جسم سبب ازدیاد سرعت دوران الکترون های آن میگردد هم چنان باعث لرزیدن و اهتزاز اتوم ها و مالیکول های جسم میشود. اصولاً حرارت جزء ارتعاش شدید مالیکول های جسم چیزی دیگری نیست.اگر انگشت تا نرا به جسم داغی تماس دهید احساس سوزش خواهید کرد. در حقیقت شما اهتزاز مالیکول ها را با نوک انگشت لمس می نمائید. منتهی چون تعداد این نوسانات (عقب و پیش رو رفتن مالیکولها) در ثانیه بسیار زیاد است.اعصاب نوسانات مزبوررا به صورتی احساس مینماید که ما اسم آنرا گرما یاحرارت و یا سوزش میگذاریم. به هر صورت در حرارت بسیار زیاد سرعت الکترونهابه حد میرسد که ممکن است از مدار اصلی خود دور شوند به این ترتیت که الکترون های تحریک شده (الکترونها یکه در اثر حرارت از هسته اتوم دور شده اند) را توسط چارچ مثبت زیاد از اطراف اتوم مربوط خارج می سازد.اتمی که یک یا چند الکترون ازدست داده باشد ایون (ion) نام دارد. به لحاظ از دست دادن الکترون های منفی اتوم مزبور به ایون یا چارج الکتریکی مثبت تبدیل میشود جسمی را که اتوم هایش به ایون تبدیل شده جسم ایونیزه الکتریزه گویند. هدف اینجاست که الکترون های آزاد شده به واسطۀ تفاوت پوتانسیل و یا قوۀ محرکه باید در یک مدار بسته به طور منظم به حرکت آورده شود که همین حرکت منظم الکترون ها ماهیت جریان الکتریک میباشد. حرکت الکترون ها را بالای سیم یا ناقل حرکت الکترون گویند.از نظر کیفیت دو نوع چارچ الکتریکی وجود دارد. چارچ الکتریکی مثبت (+) و چارچ الکتریکی منفی (−). این دو نوع چارچ الکتریکی از همان قانون مقناطیس پیروی می نماید به این ترتیب که چارچ های همنوع یکدیگر را دفع و چارچ های مختلف النوع یکدیگر را جذب میکنند.

# د نمرو وېش؛ څوک کامیاب او څوک ناکام دي؟

میا هدایت الله محمدي

ورمه ورځ په سپېدار ماڼۍ کې د اسلامي امارت د مشرانو په وړاندې په خلاصه فضاء کې د هېواد فرهنګپالو او مخورو شخصیتونو ته د روانو حالاتو په اړه د اظهار نظر غونډه جوړه شوې وه، د داسې غونډو جوړېدل، خورا مهمې او اړینې دي؛ ځکه چې د افغانانو د دښمنانو هغه ادعاوې او دعوې باطلې ثابتوي چې ګواکې اوس په هېواد کې د بیان ازادي نشته یا وایي چې اوس د هېواد په رسنیز ډګر باندې بندیزونه لګېدلي او هر څه د طالبانو له لوري سانسور کېږي، موږ دا غونډه او له دې غونډې ور اخوا د نورو دغسې غونډو جوړېدل او په ډاډمنه فضاء کې د هېوادوالو نظرونه اورېدل مثبت اقدام بولو او د دې اقدام په اړه د امارت ټول مسئولین او مشران د سلو نمرو مستحق او حقدار بولو؛ ځکه چې موږ د جمهوریت پر مهال هم د غونډو او تش په نوم د بیان د ازادۍ شاهدان وو.

موږ هغه وخت هم په یاد لرو چې چا به په لویو غونډو کې د حامد کرزي، اشرف غني، عبدالله او یا نورو په وړاندې منفي څرګندونې ورکړې؛ نو برخلیک به یې څه ډول و؟

خبره رانه اوږده نه شي، د تېرې ورځې د غونډې ویناوال د مختلفو ذهنونو او دریځونو خاوندان وو، یو په کې د استاد اسمعیل یون او بل په کې د ډاکتر فیاض ساپی په نومونو د هېواد دوه سپین ږیري شخصیتونه هم وو.

استاد اسمعیل یون هر اړخیزه وینا وکړه، مثبتو کړنو ته یې جګې او ځینو ته یې متوسطې او ځینو ته یې د صفر نمرې او درجې ورکړې، دا د هېواد د یوه استاد خپل خیال او ارزونه وه، چې استاد د دې نمرو په وېش کې له انصافه کار اخیستی او یا نه، دا به هېوادوالو ته پرېږدو؛ خو بل لوري ته بیا ډاکتر صاحب ساپي تونده انتقادونه وکړل او رښتینو مشرانو په ارامه او سړه سینه د دغه سپین ږیري خبرې واورېدلې او زه پوره باوري یم چې د خبرو او انتقاد د سپیناوي په اړه به یې هماغه وخت اقدام هم شوی وي؛ خو رازم دې ته چې اوس په ټولنیزو رسنیو کې د استاد اسمعیل یون د نمرو په اړه نیوکې کېږي او دا بې انصافي بولي چې ولې یې اوسنیو واکمنو ته داسې نمرې ورکړې؛ په داسې حال کې چې موږ ټول شاهدان یو چې اوسنی نظام او اوسني واکمن مسئولین له دغو نمرو د لا ډېرو نمرو او پلس شاباسۍ حقدار دي.

خو بل لوري ته بیا د ډاکتر ساپي خبرې د واکمنو په وړاندې د صبر، زغم او بیان د آزادۍ لامل نه ګڼي او هغه لوری یې زیات ځلوي چې ګواکې د هېواد روغتیایي چاپېریال د فلج کېدو سره مخ دی.

زه وایم چې ایا هغه ورځې مو یاد نه دي چې د قوم مخور او علما به په داسې لویو غونډو کې د حق په ویلو له ستېج راغورځول کېدل او بیا به د زندان تور تمبو ته غورځول کېدل؟

په هغه وخت کې خو هېچا دا ونه ویل چې دا د بیان د آزادۍ ارزښتونو ته سپکاوی دی؛ بلکې ډېر داسې ړانده او حلقه بګوش لیکوالانو به بیا هم د وخت حاکم ته د سلو نمرو تر څنګ د شاباس القاب کارول.

موږ که د خدای جل جلاله په وړاندې ځان مسؤول ګڼو؛ نو باید د اوسنۍ اداري د مشرانو دې حوصلې او زغم ته سل نمرې او د شاباس درجه ورکړو او تر څنګ یې باید د کلک ملاتړ ژمنه ورسره وکړو؛ ځکه دا مشران کامیاب مشران دي او هغه چې هېواد او هېوادوال یې په ستونزو کې راګیر کول او د پردیو د شومو موخو لپاره یې په سرونو، مالونو او عزتونو سوداګري کوله، هغه ناکام او سرکوزي وو.

بله خبره لکه څرنګه چې د بهرنیو چارو سرپرست ښاغلي مولوي امیر خان متقي صاحب وکړه هغه د رسمیات خبره وه، نوموړي وویل چې موږ له ټولو ګاونډیو سره ښې او مثبتې اړیکې لرو او د افغانستان خاوره اوس د پور امنه فضاء شاهده ده، که کومه وړه ستونزه رامنځته شوې هغه په بیړه هواره شوې او غوټه مو د لاس په ځای په خوله نه ده خلاصه کړې، موږ د دې خبرې د یقیني او حقیقي بڼې په اړه هم شاهدي ورکوو، چې د ښاغلي متقي صاحب د نه ستړي کېدونکو هڅو او خورا مثبت سیاسي دریځ او ځیرکتیا برکت دی چې نن موږ له هېڅ ګاونډي هېواد سره لاس او ګرېوان نه یو او د همدغو سپېڅلیو هڅو پایله وه چې له سوډان، ایران، عربي اماراتو او پاکستان څخه مو ګڼ شمېر ورک او تري تم بندیان ازاد او خپل هېواد ته راستانه کړل، دا هڅې او سترپاوې دې خدای جل جلاله په خپل عالي دربار کې قبولې کړي او د ښاغلي متقي صاحب د همت متې دې لا پیاوړې او غښتلې شي.

زما یاد دي کله چې د حامد کرزي د واکمنۍ دوره وه پاکستان په ډیورنډ کرښه د ظلم اقدام کړی و او څه کلي او کورونه یې بمبار کړي وو، کرزي په هماغه ساعت مطبوعاتي غونډه رابللې وه او پاکستان ته یې د ګواښ او عکس العمل په پاره دا شعر وویل:

ګر نداني غیرتی افغانیم
چون به میدان امدی، میدانیم

په سبا یې بېرته ښښنه وغوښته او د افغانانو په غرور یې سپېرې خاورې واړولې.

همدارنګه که مو یاد وي اشرف غني زموږ ځینو هېوادوالو له پاکستان او ایران سره د مخالف سیاست او بلمثل چلند له امله د شاباس او سلو نمرو مستحق ګاڼه؛ بیا به مو هغه وخت تر غوږونو داسې خبرونه هم را ورسېدل چې د خپلې واکدارۍ د بقاء او پایښت لپاره یې د پاکستان د چوهدریانو او د ایران د اخندانو دروازې ټکولې او خپله بریا یې د دوی په رضایت او خوښۍ کې لټوله، خو نن لله الحمدلله هر څه روښانه دي، سره له دې چې د امارت هېڅ مسئول او مشر تر اوسه لویه خبره نه ده کړې او نه یې هم کوم ګاونډي هېواد سره د سر د جنګولو خبره کړې؛ خو په دې هم ډاډمن یو چې که داسې یوه اقدام او چلند ته مجبور شي؛ نو بیا د خاپښ په ګنډو او د ایران په خاوره سپین محمدي توغ رپانده ووینئ؛ خو اوس دا ووایئ چې دا د زعامت رښتیني حاکمان د سلو نمرو او شاباس مستحق نه دي؟

بله خبره د واکدارۍ او خپلواکۍ ده، موږ د تېرو دورو شاهدان یو، کله به چې بهرنیو بلواګرو د کوم قوم او ټبر مخور مشران د خپلو شومو موخو په پار بې عزته کول، نو بیا به یې د وخت حاکمان ورته وپرسول او د هغوی له لوري به په لویو مجالسو کې مسخره شول؛ خو نن موږ دا هر څه مثبت وینو او هېڅ مشر د ذلت او سرکوزۍ احساس ته نه دی پرېښودل شوی، بلکې لا یې برم، عزت او خیال ساتل شوی دی.

ایا موږ د سنبلې او حوت اتلسمې او دغسې نورو تیارو ورځو شاهدان نه یو چې په رڼا ورځ به د لنډغریزو لښکرو له لوري د ښار نظم او دسپلین له منځه ولاړ او په رڼا ورځ به د حاکم(!) په انځورونو ډزې کېدلې خو چا به غږ هم نه شو کولای؟

کله چې دا فرعوني ملک الطوایفي او طلسم له منځه ځي او افغان د یوې واحدې او لامثاله رهبرۍ لاندې راټولېږي او خپل حیا، عزت، مال او ناموس خونديویني؛ نو بیا ولې سترګې ړندې شي، ولې غوږونه کاڼه شي او ولې ګوتې او خوله د نمرو د وېش په اړه ناراضه کېږي؟

هغو کسانو ته چې د وطن په خاوره او خلکو یې سوداګري کوله او د دوی په وینو او غوښو یې د واشنګټن برجونه او د الیزابېت تاج ساتلو، هغوی د سلو نمرو او شاباس مستحق ګڼئ؛ خو چا چې درته په رښتیني خپلواکي راوستله او په رښتیني توګه یې افغانستان د سیمې او نړۍ د ښامارانو له پنجو خلاص کړ، هغوی د ۹۵ نمرو مستحق نه ګڼئ او په پاکو لمنو یې د داغ لګولو هڅه کوئ دا نو کوم انصاف او کوم عدل دی؟

عبدالرحمن بابا وایي چې:

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکړي
خپل ټټو او د بل آس به برابر کړي
تو لعنت دې په دا هسې منصفي شه
چې له حقه و باطل و ته ګذر کړي
په نعمت یې شکرانه کولای نه شي
چې زحمت درباندې درشي شور و شر کړي
و بدخواه و ته څوک نېک نصیحت نه کړي
رحمان ستا په غم شریک دی که باور کړي

نو زه هغو تښتېدلو او ورخطا قلموالو ته وایم چې نور د دښمن تېر ته لاستي مه جوړېږئ، نور د خپل برم او عزت خاښونه مه پرې کوئ، په افغانانو الله جل جلاله رحم او کرم وکړ او د یوې رښتیني آزادۍ او خپلواکۍ نعمت یې ورکړ؛ د دې نعمت شکرانه ادا کړئ او سپېرې خاورې په دېوالونو مه تپئ.

د بهرنیو چارو سرپرست ښاغلي مولوي امیر خان متقي صاحب په وینا د دنیا هر وګړي ته د افغانستان خاوره د امن پیغام ورکوي، د سیاحت او چکر بلنه ورکوي، د پانګونې او بیارغونې پیغام ورکوي، په نورو هېوادونو کې مېشت افغانان خو پرېږده د سر دښمنانو ته یې هم د بېرته راتګ بلنې او د ډاډمن ژوند د تېرولو ډاډ ورکړی؛ چې خبره د دومره لوی زغم او حوصلې وي بیا د نمرو په ورکړه ولې سترګې راوباسئ؟ ولې د مخالفت ګوتې پورته کوئ؟ ستاسو له دې رویې او شوره به چا ته ګټه ورسېږي؟

په هغه وخت کې چې چا د بیان د آزادۍ په نوم غږ اوچتولو، سرنوشت به یې څه و؟

څومره لیکوالان، ژورنالستان او د حق پلویان تري تم شول؟ چا یې پوښتنه وکړه؟

زموږ د وطن پنځه څلوېښت زره ځوانان د امرېکا او برېتانیا د برجونو د ساتلو په پار او د حاکمانو د واکدارۍ د پایښت په لاره له تېغه تېر نه شول؟ هغه وخت چا د نظام او د دې ظلمونو پر خلاف غږ اوچتولای شو؟ نن ولې د ړندو سترګو تقلید کوئ او ولې د یوه بې طرفه شخص له لوري د نمرو په ورکړه، منفي نغوته کوئ او په ټولنیزو رسنیو کې د شور او خلاف غږ پورته کوئ؟ که موږ د تېر حکومت کړنو او ظلمونو ته وګورو موږ باید اوسني حاکمانو ته مثبت سل نمرې ورکړو؛ موږ دومره ناانصافه او د ړانده وجدان خاوندان یو چې اوس ړانده او ګاڼه قضاوتونه کوو او سپېرې خاورې په دېوالونو موښوو، زموږ د دې ډول نیوکو ثمره او پایله به څه وي؟ ولې د داسې ورځې ارمانجن یو چې په غاړه مو د ذلت توق زنګېږي او برخلیک مو د مغرضو وګړو له لوري ټاکل کېږي؟

شاعر وایي چې:

دا خلک ولې انتظار د هغې ورځې کوي
چې پاچا مړ وي او وزیر په زولنو تړلی؟

نو موږ ته بویه چې که نور څه نه شو کولای او ښو ته ښه نه شو ویلای، دومره خو باید وکړو چې د دښمن د شومو موخو ښکار نه شو او دا وخت چا ته ور نه کړو چې په رښتینو مشرانو او اوسني سپېڅلي نظام مو د انتقاد جرئت وکړي، موږ ته لازمه ده چې د رب العالمین د دې ستر نعمت (خپلواکي او ازادي) شکر وباسو او د هر طاغوتي او شیطاني دجال په وړاندې د حق غږ پورته کړو، که چېرې داسې ونه کړو؛ نو لرې نه ده چې خدای جل جلاله به مو په لویو امتحانونو کې ګیر کړي او بیا به هغه وخت هېڅ د خلاصون او غږ اورېدلو څرک نه وي.

# خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دواعشو

دوولسمه برخه / عبدالرحمن محمود

د خوارجو بله لویه فرقه (( النجدات)) ده

نجدات ډله و نجدة بن عامر بن عبدالله ته منسوبه ده، نجدة د نافع بن الازرق د ازارقة و، د زعیم ملګری و، وروسته د یو تعداد اختلافاتو په وجه ورڅخه جلا شو، نجدة له یمامة را ښکاره شو، بعضې وایي چې د عمان له غرنۍ علاقو را پورته شو، پر صنعاء او بحرین او قطین نومې ځایو یې واک تر لاسه کړ، د خلافت اسلامي ښه لویه برخه یې ور څخه ونیوله ، دی په همدغسې قوت کې وو چې خپل ملګري یې ورڅخه مخالف شوه ، له ټولو سخت ترین مخالف یې ابو فدیک الخارجي و ، کله چې نجدة خبر شو چې ابو فدیک او ملګرو یې د ده د وژلو تصمیم نیولی، خپلو ماماګانو بنو تمیم ته یې پناه ور وړل ، بیا یې له هماغه ځایه و خلیفة عبدالملک بن مروان ته د تلو اراده وکړه تر څو بیعت ورسره وکړي، لومړی خپل کور ته ولاړ، تر څو خپلې مېرمنې ته د سفر مخکې لازمي لارښوونې وکړي، په همدې ساعت کې ابو فدیک او ډلې یې هجوم پر راوړ او په خپل کور کې یې وواژه، د نجدة له وژلو وروسته ابو فدیک د نجدات ډلې مشر شو، چې بیا وروسته عبد الملک بن مروان لس زره مجاهدین د عمر بن عبیدالله بن الزبیر په مشرۍ ور ولېږل او د بحرین په مشقر نومي ځای کې سره مخامخ شول، د معرکې په اخره کې معلومه شوه چې ابو فدیک وژل شوی، له اتباعو او ملګرو یې شپږ زره کسان ووژل شول او اته زره اسیران شول، په همدې ډول د نجدات ډله ختمه شوه ولله الحمد علی ذلک.

د نجدات د عقائدو په هکله علماء د تاریخ متفق نه دی، مثلاً شهرستاني وایي چې نجداتو د شرابو حد نه و، ساقط کړی، خو مصنف د «الفرق بین الفرق» بیا لیکي چې د نجداتو خوارجو لومړی بدعت دا و،چې حد د شرابو یې ساقط کړ، نجدات ډلې هم د نورو خارجي ډلو په څېر خپل مخالفین کافران بلل او د هغوی د ښځو او ماشومانو وژل یې ځان ته جائز بلل، النجدات په دې عقیده و،که څوک کوچنې درواغ وایي خو دائم یې وایي هغه کافر دی، خو که یو څوک زناء کوي او اصرار نه پرې کوي هغه مسلمان دی.

د خوارجو بله لویه فرقه «الاباضیة» ده، نسبت یې عبدالله بن اباض ته دی، عبدالله بن اباض د عبدالملک بن مروان د خلافت په اخیرو وختو کې مړ شو، دوی هم د نورو خوارجو په څېر خپل مخالفین کافران ګڼل.

اباضیة وو یو بل عجیب موقف د خپلو مخالفینو په هکله درلود ، هغه دا چې د دوی د مخالفینو وینه تویول یې په ښکاره جائز بلل خو په پټه نه، دینې رهبرۍ او مراجعو یې ورته ویل چې هغه مخالفین مو چې په جنګ کې درسره ښکیل نه وي، د هغوی وژل نه دي روا ، خوهغوی مه خبروئ، بلکې هغوی دې داسې پوه کړل شي چې وژل یې راته جائز دي.

اباضیة بیا و درو فرقو ته تقسیم شوه: الحفصیة، الحارثیة ، الیزیدیة.

یزیدیة یې کفار دی ځکه چې دوی په دې عقیده وو چې په اخر الزمان کې د محمد صلی الله علیه وسلم شریعت نسخ کېږي، د حفصیة فرقې نسبت یې و حفص بن ابي مقدام ته دی ، حارثیة بیا اتباع د حارث بن یزید دی.

اباضیة ډله تردېره وخته پاتې وه، خصوصاً په عمان او الجزائر کې یې اوس هم بعضې اتباع شته، خو په عقیدوي لحاظ یې له مخکینیو څخه ډېر تغیر کړی، نه خپل مخالف تکفیروي او نه یې وینه حلاله بولي، که ووایو چې هغه واقعي اباضیة ختم شوې هم به بې ځایه نه وي.

بله لویه فرقة د خوارجو « بیهسیة » ده، نور بیا...

# د اسلامي ثقافت ارزښتونه

**مولوي نورالحق مظهري**

**دويم ارزښت**، په اسلامي ثقافت د انسان صحيح عقيده نوره هم ټينګېږي؛ د اسلامي ثقافت په زده کولو په انسان کې صحيح عقيده راځي او ټينګېږي مثلاً د الله پاک پر الوهيت، ربوبيت، نومونو، صفاتو او افعالو د توحيد عقيده، هغه عقيده چې د کفر او اسلام جلا کوونکې ده او د هغې پر بنياد له انسان سره د قيامت په ورځ کې حساب کېږي، د هغې پر بنياد د انسان اعمالو ته اعتبار ورکول کېږي او د هغې پر بنياد انسان د ثواب او يا عذاب مستحق ګرځي. لکه څنګه چې الله پاک فرمايي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ.[النحل ۳۶]

ژباړه: موږ په هر امت کې رسول رالېږلی و، چې خلکو ته ووايي: د الله عبادت وکړئ او له طاغوته ځان وساتئ! له دوی څخه ځينې هغه خلک وو، چې الله هدايت کړه او ځينې نور بيا هغه خلک وو چې ګمراهي پر دوی ثابته شوه، نو په مځکه کې وګرځئ او وګورئ چې د درواغجنو عاقبت څنګه شوی دی؟

دا تنها اسلامي تعليمات دي چې پر مټ يې د الله پاک او ملعون شيطان ترمنځ تفاوت زده کېږي، دا تنها اسلامي تعليمات دي چې په زده کولو يې انسان ته د الله پاک د عبادت حقانيت او د نورو شيانو د عبادت بطلان څرګندېږي، دا اسلامي تعليمات دي چې د هدايت او ګمراهۍ ترمنځ توپير کوي؛ هدايت ته تلل د انسان وظيفه او د انسان لپاره کمال ګڼي خو د ګمراهۍ پر لوري تلل د انسان لپاره انحراف او بربادي بولي، دا اسلامي تعليمات دي چې په زده کولو يې په انسان کې داسې مثبت بدلون راځي چې د رښتيني انسانيت معنی او د بشريت ارزښت ورته معلومېږي.

په هره زمانه کې چې کوم خلک په بې دينۍ باندې روږدي شوي يا زموږ په زمانه کې چې کوم خلک په کمونيستي يا سيکولر عقيدې اخته شوي دي لوی لامل يې دا دی چې اسلامي تعليمات يې سم نه دي کړي، اسلام يا په نامه پېژني او يا يې هم د يهودو او نصارا وو په تعبير پېژني ځکه دغسې خلک عموماً په داسې هيوادونو کې زده کړې کوي چې هغه يا کفري هيوادونه وي او يا هم پر دين نه ولاړ هيوادونه وي چې طبعاً په داسې هيوادونو کې شعوري يا غير شعوري اسلام و خلکو ته بد معرفي کېږي په خاصه توګه په ښوونيزو مرکزونو کې.

که زموږ د هيواد افغانستان د څو لسيزو تاريخ ته وګورو دا به راته ثابته شي چې د اسلام پر ضد شعارونه چا ورکړي دي ؟ او د اسلام پر ضد کومو خلکو حرکتونه کړي دي؟ په هيواد کې د اسلامي نظام د راتللو مخې ته خنډونه چا جوړ کړي دي؟ او د فساد او فحشاء لپاره مبارزه کومو خلکو کړې ده؟.

جواب يې ډېر واضح دی: د انګرېز مزدورانو چې بې دينه خلک وو، د روس مزدورانو چې بې دينه خلک وو او د غرب مزدورانو چې بې دينه خلک وو او دغه بې دينه خلک يا په هماغه هيوادونو کې روزل شوي و او يا هم ځينو په ايمان سستو انسانانو د څه مادياتو لپاره خپل ايمان په سې پرېښود او د يادو هيوادونو په خدمت کې يې د اسلام پر ضد ځانونه د هغو غېږې ته ور واچول.

که حقايقو ته وګورو دا به راته له ورايه ښکاره شي چې په څو لسيزو کې په هېواد کې ډېرې ناخوالې د همدغه بې دينه کړيو لخوا پېښې شوي دي د بېلګې په ډول: په هېواد کې فحشاء، اداري او ټولنيز فساد، سيمه ييزه او ژبني دښمني، د بې ګناه او مرموزو قتلونو رواجول، په هېواد کې د ميشتو قومونو ترمنځ طبقاتي توپير پيدا کول، په ښوونيز نصاب کې نفرتونه ګډول، د اسلامي شعايرو سپکاوی، په ځوانانو کې فکري او سياسي انحراف پيدا کول او په عمومي شکل نا آرامي جوړول ټول د همدغه بې دينه خلکو په لاس هيواد ته راغلي وه.

او دا خبره زه په پوره ډاډ باندې کوم که موږ اسلامي تعليمات زده کړو او په غوښتنه يې عمل وکړو نو يا به خپله ټولنه له داسې بدمرغيو خلاصه کړو او يا به يې خلاصېدلو ته لاره آواره

# له اسلام څخه مخکې د ښځو حقونه

**پوهنيار سيدرفيق حکيمي**

سريزه

ښځه د بل هر انسان په څېر په ټولنه کې د ژوند کولو حق لري او په ټولو چارو کې مهم او اړين رول لوبوي¬. ښځې په ټولنه کې ځينې حقوق او دندې ¬لري. د اسلام مبارک دين او پخوانيو اديانو د ښځو د درناوي او د هغوی د حقونو د ثبتولو په برخه کې پوره روښانه بحث کړی دی. د کميت له پلوه ښځه په اټکليز ډول د ټولنې له نمايي زياته برخه جوړوي. دغه ټولنيز موجود د ټولنې د چارو په سمون او د ژوند په ټولو برخو کې خورا زيات او د ارزښت وړ رول لوبوي. ښځه د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې د ژوند سرچينه، ماندينه، خور او مور ده. ښځه په ټولنه کې د مشخصو حقونو او وجيبو درلودونکې ده. د ښځو حقونه په اسلام او بشري ټولنو کې واضح او روښانه دي سره له دې چې د اسلام مبين دين او نورو پخوانيو اديانو د ښځې د تکريم او د دوی د حقونو په تسجيلولو بشپړه څرګندتيا لري، خو په عمل کې دغه حقونه د تاريخ په بېلابېلو دورو کې تر پښو لاندې شوي دي. بناءً بده به نه وي تر څو د تاريخ په بېلابېلو دورو کې د ښځو د حقونو په څرنګوالي رڼا واچول شي. په ټوليزه توګه پرته له استثنايي مواردو ښځه د اسلام څخه مخکې ټولنو کې د هر راز ارزښت او اهميت وړ نه بلل کېده. ښځې د اموالو او اجناسو په څېر پير او پلورل کېدې او د نارينه په لاس کې د يوې آلې يا وسيلې په توګه ګڼل کېدې، په دغو ټولنو کې ښځه د ګناه او بد مرغۍ او عذاب سمبول ګڼل ګېده، له همدې امله که به نوی زېږېدلی ماشوم نجلۍ وه، ژوندۍ به ښخېدله. په دې لنډه ليکنه کې به له اسلامه مخکې تمدنونو کې د ښځو پر حقونو بحث وکړو.

**۱- د يونان په ټولنه کې د ښځو حقوق:** په داسې حال کې چې د يونان هيواد د کلتوري علومو له نظره په تېرو ملتونو کې يو له متمدنو او پرمختللو ټولنو شمېرل کېده، خو د ښځو د حقونو په برخه کې، خورا ورسته پاتې و، ځکه چې تاريخ د دې شاهد دی چې په دغه زمانه کې، ښځه نه يوازې د کور په څلور ديوالونو کې بندي ساتل شوې وه، ، بلکې د جسمي پلوه هم له ربړونې او عذاب سره مخامخ وه، يعنې له ميراثه بې برخې وه او د نسل د توليد د يو وسيلې په توګه ګڼل کېده او په کور کې يې د يوه مزدور حيثيت درلود . په دې پرمختللې ټولنه کې ښځې د هېڅ ډول عزت او مقام حقداره نه وه، له ذلت او خوارۍ پرته يې بل څه نه درلودل او ټول لوړ مقام، عزت او کرامت د نارينه په لاس کې و او بس.

**۲- په رومي ټولنه کې نارينه په کورنۍ کې مطلق العنان او د قيد او شرط څخه پرته پاچاهان ګڼل کېدل.** په رومي ټولنه کې نارينه مذهبي رييس، سياسي حاکم او د کورنۍ د ټولو شئونو متصرف شمېرل کېدل او ټول حقونه هغوی ته منسوبيدل، نارينه د هر څه څښتن وو او د ژوند په ټولو چارو کې يې بشپړ واک درلود، حال دا چې ښځې د هېڅ شي څښتنې نه وي. لکه څنګه چې تاريخ پوهانو څرګنده کړې ده، په روم کې به چې ښځې په يوې کورنۍ پورې تړاو موند، په بشپړه توګه به د هغې کورنۍ ملکيت ګڼل کېده، وروسته له واده څخه به د نومورې ښځې د خپلې پلرنۍ کورنۍ سره د خپلوۍ ټولې اړيکې پرې کېدلې او د مېړه شخصي مال به ګڼل کېده. مېړه د خپلې ښځې او لونو د ژوند په ټولو برخو باندې حاکم و، مېړه قانوناً حق درلود چې خپله ښځه د هر ډول جرم په ارتکاب محاکمه کړي او هر ډول سزا يې چې لازمه ګڼله پرې تطبيق کړي. مېړه آن کولای شو خپله ښځه اعدام کړي او ويې وژني. که چېرې به د ښځې مېړه مړ کېده، هغه به د خپل مشر زوی، لېوره او يا هم د مېړه د تر اداري لاندې راتلله.

**۳- د يهود په زمانه کې:** يهوديان په دې آند وو چې نجلۍ د خدمتګارې حيثيت لري او پلار يې د هغو د پلورلو حق درلود. ښځې ته ميراث نه ورکول کېده، خو د ورور د نه شتون په صورت کې يې کولای شول له دغه حقه برخمنه شي. پلار کولای شول د خپل ژوندانه پر مهال لور ته يو څه وروبښي. همدا راز کله به چې نجلۍ د ورور د نه شتون په صورت کې د ميراث حقداره شوه، بيايې نو د واده حق نه درلود او که چېرې به يې واده وکړ، د ميراث له حقه بې برخه کېدله. په همدې توګه که چېرې به نجلۍ د ورور د شتون په صورت کې له ميراثه بې برخې شوه، د دې نفقه پر ورور او مهر يې د دې پر مېړه تثبيتېده.

**۴- په نصراني (مسيحي) ټولنه کې د ښځو حقونه:** مسيحي ټولنې د نورو په پرتله د ښځو د حقونو په اړه له خورا مبالغې کار اخيست او د ښځو په اړه د مسيحيانو کړنې په يولړ عقيدو باندې ولاړې وې. دوی ښځه د ګناهونو او فسادونو سرچينه ګڼله او په دې آند وو چې ښځه د نارينه لپاره د جهنم دروازې يوه دروازه ده. يو ستر مسيحي پوه، کراي سوستم په دې هکله داسې ويلي دي:( ښځه هغه شر دی چې له هغې څخه د تېښتې لارنه شته، هغه د فطرت وسواس، د خوښۍ وړ آفت، د کورنۍ لپاره خطر، دعاشقانو قاتله، مصيبت او سوځوونکې او لمبې وهونکې اور دی).

په پنځمه ميلادي پېړۍ کې د پوهانو ستره غونډه جوړه شوه او دې پوښتنې په هکله يې بحث کولو چې (آيا ښځه يوازې يو مجرد او بې روحه جسم دی او يا داچې د روح خاونده ده؟) د دې غونډې په پای کې دې فيصلې ته سره ورسېدل چې ښځه د هغه ناجيه (ژغورونکې) روح څخه چې دا بايد د جهنم څخه وژغوري، تشه (بې برخې) ده. په (۵۸۶) زېږديزکال کې فرانسويانو يو کنفرانس داير کړ تر څو چې دا خبره جوته کړي چې ښځه انسان ده او که نه ده ؟ وروسته له ډېر جر او بحث څخه دې پايلې ته سره ورسېدل چې ښځه انسان ده او د نارينه د چوپړ لپاره پيدا شوې ده. دوی په دې اند وو چې له ښځو سره د جنسي اړيکو درلودل نجس او پليد عمل دی او هغو څخه بايد ځان وساتل شي که څه هم د نکاح او مشروع تړون له لارې دا عمل سرته ورسېږي او انزوا د واده څخه ښه ده. دغه ډول رهباني آند او تفکر د خلکو په روح داسې اغېزه وکړه چې نکاح يې پليده او نجسه ګڼله او د ښځې مقام او حيثيت د ژوند په ټولو اړخونو کې خورا ټيټ وو.

**۵- داسلام نه مخکې په عربي ټولنه کې د ښځو حقوق:** د اسلام نه مخکې په عربي ټولنه کې ښځې د ژوند په ټولو برخو کې له خپلو حقونو بې برخې وې، د نجلۍ د زېږېدو پر مهال به خلک خپه کېدل او بد شګون به بلل کېده. په دې ټولنه کې د نجلۍ زېږېدل د کورنۍ لپاره د بدمرغۍ او لوی ناورين په توګه تعبير شوي وو، د ښځو په وړاندې د دوی کرکه او غصه دومره وه چې خپلې لوڼې به يې ژوندۍ ښخولې. ښځې له ميراثه بې برخې وې، ځکه چې دوی عقيده لرله چې ښځې ته ميراث ورکول پرديو (د ښځې خاوند او خپلوانو) ته د جايداد سپارل دي. په همدې توګه دوی دومره حريص وو چې غوښتل يې تر څو نجلۍ د خپل پلار په کور کې پاتې او واده نه شي. ښځه د هېڅ ډول تاکلو حقونو څخه برخمنه نه وه چې مېړه بايد د هغوی په ورکړه مکلف وای. د طلاق په ورکړه کې هم محدود عدد شتون نه درلود، نه هم د ښځو سره د نکاح کولو په شمېره کې حدود موجود وو او نه هم ښځې ته د راتلونکې مېړه د ټاکلو حق ورکړل شوی و.

**۶- داسلام نه مخکې د فارس په ټولنه کې:** په دې ټولنه کې ښځه په بشپړه توګه د سړي تر حاکميت او کنټرول لاندې وه او نارينه حق درلود تر څو ښځه بې له پوښتنې ځواب او پرته له کومې محاکمې او بې له دې چې په موضوع څېړنه ترسره شي، د لزوم په صورت کې په مرګ محکومه کړي. ښځه د کور د مال په شان د سړي په قبضه کې وه. د حيض په وخت کې به ښځې له کوره ايستل کېدې او ښځې به دا وخت له کلي او ښاره بهر په يوه وړه خيمه کې تېراوه، چا به د حايضې ښځې سره معاشره نه درلوده، آن هغه چا به چې نومورې ښځې ته خواړه وړل خپله پوزه به يې په يوه ټوکر کلکه تړله تر څو د هغې د نجاست او پليتۍ څخه لرې وي او د هغې هوا تنفس څخه به يې په کلکه ډډه کوله چې له حائضې سره يې تماس درلود. د فارس په ټولنه کې د نسبي محرماتو، لکه د ترور، مورنۍ ترور، لور، خور او ورته ښځو سره نکاح مجازه ګڼل کېده.

**۷- داسلام نه وړاندې په آريايي ټولنه کې د ښځو حقوق:** په اوومه ميلادي پېړۍ کې د خراسان ښځې نسبتاً مهمې او د اهميت وړ ګڼل کېدې، د هغه وخت د قوانينو له مخې ښځو د واکمنۍ او په شاهي مقامونو کې هم د کار کولو حق درلود. د هغو مقرراتو له مخې چې په دې زمانه کې رامنځ ته شوي وو، د دوديز آريايي طبقې له مخې، چېرې چې خلک په څلورو طبقو وېشل شوي وو، د لوړې طبقې سره د ټيټې طبقې واده کول منع وو او له نږدې خپلوانو سره واده کول هم منع وو او کله به چې ښځې يو ځل واده وکړ، دويم ځل يې نه شو کولای چې مېړه وکړي.

ماخذونه:


۱- ايوبي، کوهدامني(۱۳۹۱). حقوق بشر، جندر واطفال، کابل. انتشارات قومنداني اکادمي پوليس.

۲- حضرتي، غلام دستګير. ۱۳۸۴، آموزش حقوق اطفال.

۳- رسولي، محمد اشرف، اسلام و حقوق بشر و پس منظر حقوق بشر در افغانستان


# مسلمانه مبارزه وروره!

**نورالحق**

دا ستا د مبارزې پر ارزښت او مؤثريت دلالت کوي چې تل دې کفرپال، فاسقان، خودخواه، او بې استعداده خلک مخالفت کوي او ستا د علمي استعداد او بارز شخصيت د کم ارزښت کولو له لارې غواړي تا له مبارزې را وګرځوي خو ته بايد د وسپنې په څېر کلک عزم، د اور په څېر تند او د سېلاب په څېر روان قلم، د باران په څېر اخلاق، د تورې په څېر تېره فکر، د وړانګو په څېر تېز ذهن، د پيغمبرانو په څېر پراخه حوصله او د اسلامي نظام د مشرانو په څېر حکومتي او مصلحتي پاليسي ولرې تر څو دې مبارزه نوره هم اغېزمنه واقع شي او په اصلاحي، فکري، فرهنګي، سياسي او ټولنيزو برخو کې دې خدمتونه نورهم وځلېږي.

مبارزه وروره! ستا مبارزه د سيلاب په څېر ده او هغه کسان چې ستا د مبارزې په وړاندې خنډونه جوړوي د خس او خشاک په څېر دي، ځکه نو ممکن هر ځای او هر وخت ستا د مبارزې څخه ځپل شوي خلک ستا په وړاندې را ښکاره شي لکه سيلاب اخيستی خس او خاشاک چې د اوبو په مخ او کنارونو کې را ښکاره کېږي.

تا ته ډاډ درکوم چې مبارزې دې نتيجه ورکړې او لا يې هم ورکوي کنه نو اهل باطل ستا په وړاندې نه درېدل، دا چې اهل باطل ستا په وړاندې عکس العمل ښکاره کوي دا خپله ستا د مبارزې مؤثريت په ډاګه کوي ځکه نو هېڅ وخت ناهيلی نه شي او ورځ تر بلې خپله مبارزه چټکه کوه.

خو دې خبرې ته ډېر پام وکړه چې مبارزه دې د کيف او کم په لحاظ د ټاکل شويو مشرانو سره په همږغۍ او د هغوی تر څارنې لاندې وکړه تر څو دې مبارزه هم معياري هم اصولي او هم نوره اغېزمنه شي.

# د اخلاص سورت فضایل

**پنځمه برخه / خالد مشعل**

۳۰ ـــ عن انس قال: نزل جبریل علی النبی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فقال: مات معاویة بن معاویة اللیثی، فتحب أن تصلی علیه؟ قال: نعم فضرب بجناحه الأرض، فلم تبق شجرة ولا اکمة ألا تضعضعت، فرفع سریره فنظر إلیه، فکبر علیه وخلفه صفان من الملائکة، فی کل صف سبعون ألف ملک، فقال النبی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یا جبریل، بم نال هذه المنزلة من الله تعالی؟ قال بحبه: (قُلْ هُوَ)، قراءته ایاها ذاهبا وجائیا قائماً وقاعداً، و علی کل حال.

(مسند أبي یعلی (۷/ ۲۵۸)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جبرائیل علیه السلام راغی، ورته وویل: معاویه بن معاویه اللیثي وفات شوی، غواړې چې د هغه د جنازې لمونځ وکړې؟ نبي علیه السلام وویل: هو، نو جبرائیل امین خپل وزر په ځمکه وواهه، نه ونه او نه وړوکې غونډۍ وه؛ خو ټول روان شول، د هغه (معاویه) کټ اوچت شو. نبي علیه السلام ولېدلو او تکبیر یې وویلو: نبي علیه السلام پسې د پرېښتو دوه صفه ولاړ وو. هر صف کې اویا زره ملایکې ولاړې وې. نبي علیه السلام وپوښتل: په څه څیز باندې دې درجې او مقام ته ورسېده؟ جبرائیل امین وفرمایل: (قُلْ هُوَ) سره یې مینه درلودله، په تلو، راتلو، ناسته، پاسته او هر حال کې به یې لوستلو.

۳۱ ـــ عن عبدالله بن عمرو رَضِیَ اللهُ عَنْهُما: ان ابا ایوب الانصاری رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کان فی المجلس وهوَ یقول: الا یستطیع احدکم ان یقوم بثلث القرآن کل لیلة؟ فقالوا: وهل یستطیع ذلک احد؟ قال: فان (قُلْ هُوَ) ثلث القرآن. قال: فجاء النبی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وهو یسمع ابا ایوب فقال: صدق ابو ایوب.

(رواه تفسیر ابن کثیر سورة الاخلاص: ۴ / ۵۶۷)

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روایت دی، چې په یوه غونډه کې حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه وویل: له تاسو نه کوم یو کولی شي چې په شپه کې د قرآن دریمه برخه تلاوت کړي؟ نو هغوی وویل، آیا څوک هم د دې طاقت لري؟ ویې ویل: (قُلْ هُوَ) د قرآن کریم دریمه برخه ده. حضرت عبدالله بن عمرو وایي، چې: په دې مهال نبي علیه السلام راغی او د ابو ایوب انصاري خبره یې واورېدله؛ نو ویې ویل: ابو ایوب رښتیا وایي.

۳۲ ـــ عَنْ اَبِیْ الدرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قال: ایعجزکم احدکم ان یقرأ فی لیلة: ثلث القرآن؟ قالوا و کیف یقرا ثلث القرآن قال (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدْ) تعدل ثلث القرآن وفی روایة الاخری: ان الله جزّا القرآن ثلاثة اجزاء فجعل (قل هوَ) جزاً من اجزاء القرآن.

(أخرجه مسلم، کتاب فضائل القرآن: ۱ / ۲۷۱)

ژباړه: له حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: آیا له تاسې کوم یو له دې عاجز (ناتوانه) دی، چې په یوه شپه کې د قرآن کریم دریمه برخه ولولي؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل چې: یوه شپه کې دریمه برخه قرآن څنګه لوستلی شي؟ نبي علیه السلام وویل چې: (قُلْ هُوَ) د قرآن کریم له دریمې برخې سره برابر دی، بل روایت داسې دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چې: الله جل جلاله قران کریم په دریو برخو وېشلی چې یوه دریمه (قُلْ هُوَ) دی.

۳۳ ـــ عن ابی سعید رضي اللهُ عَنْهُ قال: قال رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لا صحابه (ایعجزکم احدکم ان یقرأ ثلث القرآن فی لیلة) فشق ذلک علیهم و قالوا اینا یطیق ذلک یا رسول الله، فقال: (الله الواحد الصمد) ثلث القرآن.

(رواه البخاری، فضائل القرآن: ۲ / ۷۵۰)

ژباړه: له حضرت ابو سعید رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته وویل: تاسو کې څوک کولی شي، چې په یوه شپه کې د قرآن کریم دریمه برخه ولولي؟ دوی ته دا سخته ښکاره شوه، ویې ویل: څوک د دې توان لري، اې د الله رسوله! نو نبي علیه السلام وویل: (قُلْ هُوَ) د قرآن دریمه برخه ده.

۳۴ ـــ عن ابن عبدالرحمن عن ابیه: ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یقرا فی الوتر (سبح اسم، و قل یا ایها، و قل هوَ) فاذا سلَّم قال: سبحان الملک القدوس ثلاث مرَّاتٍ یرفع بالثالث صوته.

(مسند ابو دائود طیالسی: ۱ / ۳۷۲، واحمد، رقم الحدیث: ۱۵۳۹، والنسائی، رقم الحدیث ۱۷۳۱ ـــ ۱۷۳۲ ـــ ۱۷۳۵، والبیهقي: ۳ / ۴۱، والدار قطنی: ۲ / ۳۱، والسنن لابن ماجه، رقم الحدیث: ۱۱۸۲، الکبری للنسائی، رقم الحدیث: ۱۴۳۲، وابن حبان، رقم الحدیث: ۲۴۵۰، وابو داؤد، رقم الحدیث: ۱۴۲۳، والبغوی فی الجعدیات، رقم الحدیث ۴۹۱، وابو نعیم الحلیة: ۷ / ۱۸۱، والحاکم: ۲ / ۲۵۷، والطبرانی فی الاوسط، رقم الحدیث: ۱۶۶۶)

ژباړه: حضرت ابن عبدالرحمن رضي الله عنهما د خپل پلار له خولې روایت کوي، چې نبي صلی الله علیه وسلم په وترو کې (سورت الاعلی، الکافرون او اخلاص) لوستلو، چې سلام به یې وګرځولو؛ نو درې ځله به یې (سبحان الملک القدوس) ویلو، چې دریم وار به یې غږ اوچتولو.

۳۵ ـــ عن انس بن مالک قال کان رجل من الانصار یومَّهم فی مسجد قباء فکان کلما افتتح سورة یقرأ لهم فی الصلاة یقرأ بها افتتح (بقل هوَ ا) حتی یفرغ منها ثم یقرأ سورة اخری معها و کان یصنع ذلک فی کل رکعة فکلمه اصحابه فقالوا انک تقرأ هذه السورة ثم لا تری انها تجزئک حتی تقرأ بسورة اخری فاما ان تقرأ بها واما ان تدعها وتقرأ بسورة اخری، قال: ما انا بتارکها ان احببتم ان اومکم بها فعلت وان کرهتم ترکتُکم و کانوا یرونه افضلهم و کرهوا ان یومهم غیره فلما اتاهم النبی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اخبره الخبر فقال: یا فلان ما یمنعک مما یامر به اصحابک وما یحملک ان تقرا هذه السورة فی کل رکعة فقال یا رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ انی احبها فقال رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: ان حُبَّها ادخلک الجنة.

(رواه الترمذی، فضائل القرآن: ۲ / ۱۳۳)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: چې یو انصاري د قُباء مسجد امام و، ده داسې عادت درلود، کله به چې د لمانځه لپاره راولاړ شو؛ نو له فاتحې (الحمد لله) وروسته به یې (قُلْ هُوَ) لوستلو او ورپسې به یې بل سورت تلاوت کولو، دغه کار په ټولو رکعتونو کې د نوموړي معمول (عادت) و. خلکو هغه ته وویل: چې ته دا سورت لولې؛ ته بیا نه ګورې، چې دا ستا بس دی، تر دې چې ته بل سورت ورسره لولې؛ خو که ته غواړې دا سورت پرېږدې دوهم یا بل سورت ولولې. هغه وویل زه دا طریقه نه پرېږدم، که تاسې غواړئ ما امام کړئ؛ نو امام مې کړئ او که نه غواړئ امامت پرېږدم. دې خلکو هغه له ټولو نه غوره باله، دوی دا نه غوښتل چې له ده پرته بل امام غوره کړي؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغو ته راغلو او هغه ته یې دا حال ووایه: رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه صحابي ته وفرمایل: ته د دې خلکو خبره ولې نه منې او څه لامل دی چې په هر رکعت کې دغه سورت (قُلْ هُوَ) لولې؟ هغه وویل: یا رسول الله! زما له دې سورت سره مینه ده؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې د دې مینه به دې جنت ته ننباسي.

# د ګندمک کرغېړن تړون ۱۴۴ کلن شو!

**ساجدالله عظمت**

زموږ ګران هېواد د کاني زېرمو له خواغني او بډایه دی او هم یې موقعیت خورا ستراتیژیک دی، نو تل ښکېلاککرو یرغلونه پرې کړي دي، بریتانوي اشغالګرو چې هندوستان ونیو، بیا یې افغانستان ته پښې را وغځولې اما غیرتي افغانانو له خپل ټاټوبي د دفاع په خاطر له انګرېزانو سره لومړۍ غزا وکړه او هغوی یې له خپل هېواده نامراده وشړل او ډېر یې د کابل ـــ جلال اباد ترمنځ په ګندمک نومي سیمه کې خمیره کړل.

انګرېزانو د لومړۍ جګړې د تلفاتو او ماتې د جبیره کولو لپاره په ۱۸۷۸ م کال پر افغانستان دوهم ځل یرغل وکړ او له دریو لارو هېواد ته راننوتل، د خیبر درې له خوا د جنرال براون په مشرۍ ۵۰۰۰ یرغلګر، د کندهار له لورې د ستوراټ تر قیادت لاندې ۱۲۰۰۰ عسکر او د کورمې له طرفه خوست ته د جنرال رابرټس تر قوماندې لاندې ۳۲۰۰ پرنګیان راغلل، د افغانستان منور پاچا امیرشیرعلي خان خپل وسله وال پوځونه او مجاهد ملت پرېښود او له روسانو څخه د مرستې ترلاسه کولو په موخه مزار شریف ته لاړ، روسانو هیڅ ځواب ورنه کړ، نو له غم او خپګانه هلته مړ شو.

د شیرعلي خان زوی شهزاده محمد یعقوب خان د خپل پلار له ۸ کلن بنده تازه خوشې شوی او د چارو واګې یې په لاس کې نیولي وې، نو د انګرېزانو له فشار لاندې راغی او د هغوی ادې ګندمک ته ورغی او ټول شرطونه یې ورسره ومنل، چې بیا یې همالته د هېواد د خرڅلاو کرغېړن او ناولی تړون هم ورسره لاسلیک کړ. یاده معاهده د افغانستان د امیر محمد یعقوب خان او د افغانستان په چارو کې د انګرېزانو د استازي (سر لوئیس کیوناري) له طرفه په لسو مادو کې امضاء شوه، چې هغه په لاندې ډول دي:

۱- د دې معاهدې له لاسلیک کېدو وروسته به د دواړو خواو ترمنځ سوله او دوستي وي.

۲- له تړون وروسته به هغه ټول خلک چې د جګړې پر مهال یې له انګرېزانو سره هر ډول مرسته کړې وي، د امیر له خوا د رسمي فرمان پر اساس ښښل کېږي.

۳- د افغانستان امیر مجبور دی چې د انګلستان په مشوره او خوښه به له نورو هېوادونو سره راشه درشه او راکړه ورکړه ترسره کوي، په خپل سر له چا سره ارتباطات نه شي ساتلی. همدا راز له کوم هېواد سره امیر د جنګ اعلان هم نه شي کولی، خو انګرېزان له امیر سره هر ډول مرسته کولی شي. آن تر دې چې د انګرېزانو پوځونه هم د اړتیا پر مهال افغانستان ته ننوتلی شي.

۴- د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لامضبوطې وي، لازمه ده چې انګرېزان یو دایمي استازی افغانستان ته واستوي او له هغه سره د خپلې رتبې مطابق یو ډلګی پوځونه هم موجود وي، همدا شان یاد استازی حق لري چې له خاصو هیئتونو سره د افغانستان پولو ته لاړ شي. امیر هم کولی شي چې خپل استازی د هند د وایسرای او نورو هندي چارواکو دربار ته واستوي.

۵- د افغانستان امیر د انګرېزانو د ساتنې لپاره او له هغو سره د ښه چال چلن په خاطر ځان مسؤل ګڼي او ژمنه کوي چې د هغوی په چارو کې به لاسوهنه نه کوي او د هغوی د استازو درناوی به کوي.

۶- د افغانستان امیر له خپل طرفه او د نورو سردارانو له اړخه تعهد کوي چې د انګرېزي استازو او نورو وګړیو په شخصي چارو کې به مداخله نه کوي او غوره چلند به ورسره کوي.

۷- د دواړو هېوادونو ترمنځ به سرکونه پرانیستل کېږي چې سوداګري به په آزادنه ډول ترسره شي او دواړه هېوادونه به د لارو خطرې له منځه وړي.

۸- له کورمې تر کابله به د تلګراف مزي غځول کېږي چې لګښتونه به یې د انګرېز په غاړه وي او ساتنه به یې د امیر په ذمه وي.

۹- د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوستي ټینګه او انګرېزي قواوې په اطمئنان له افغانستانه ووځي، د فوشنج سیمه تر کوژک غره پورې او کورمه تر ځاځیو پورې، هفت چاه او لنډي کوتل دې انګرېز ته وسپارل شي. همداراز د خیبر لویه لاره چې پېښور او جلال آباد سره نښلوي د هغه انتظام به له ازادو قبایلو سره وي.

۱۰- انګرېزي دولت به یعقوب او د هغه ځایناستو ته د کال شپږ لکه کلدارې ورکوي، څو پورتني شرطونه هم پرځای کړي او اصلاحات هم وکړای شي.

د ګندمک له تړونه وروسته یعقوب خان له کیوناري سره کابل ته لاړ او تش په نوم واکمن و، ټولې چارې د کیوناري په لاس کې وې. یعقوب خان خپل ورور سردار محمد ایوب خان د هرات والي وټاکه او له هغه یې وغوښتل چې یو پلټن پوځونه کابل ته راولېږي. نو سردار محمد ایوب خان لښکر ورته را ولېږه. هغه پوځیانو ته وویل چې ستاسو معاشات په کابل کې درکول کېږي. هغوی چې کابل ته له رسېدا وروسته له سرلښکره خپل معاشات وغوښتل، هغه ورته کړه: لاړ شئ له کیوناري یې وغواړئ! نوموړی د کابل په بالاحصار کې مېشت و، افغان پوځونه چې هغه ته ورغلل، هغه ووېرېده او فکر یې وکړ لکه چې ولس قیام کړی، نو خپلو ساتونکو ته یې امر وکړ چې په افغاني پوځونو ډزې وکړئ!

افغان سرتېرو هم په ډزو لاس پورې کړ چې د کیوناري په ګډون د سفارت ۱۲۲ کسان مردار شول، یعقوب خان ډېر کوښښ وکړ چې افغانان غلي کړي، خو هغوی خپل زړونه پرې یخ کړل. کله چې د کیوناري او نورو پرنګیانو د قتل خبر د هند وایسرای ته ورسېده، نو د جنرال رابرټس په مشرۍ یې یو پوځ د لوګر له خوا را واستاوه، یعقوب خان هم مخې ته ورغلو او هغه په ترېو تندي خبرې ورسره وکړې او بندي یې کړ. تر دې چې نوموړی یې د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په ۲ مه هند ته بندیوان ولېږه چې د ژوند تر پایه د هند په پنجاب کې مېشت و.

د ګندمک د کرغېړن تړون په پایله کې کورمه، خیبر، لنډیکوتل، سیبۍ، کوژک او پښین د احمدشاهي افغانستان له وجوده د تل لپاره بېل شول. همدارنګه وزیرستان، پاړه چنار، سوات، بونیر، دیر، چیلاس او چترال هم د بریتانوي هند برخه شول.

## شعر او ادب

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

ای غرهٔ اقبال سرانجام تو شوم است
مرگت به ته بال هما سایهٔ بوم است
چون پیر شدی از امل پوچ حیاکن
یکسر خط تقویم‌کهن ننگ رقوم است
این جمله دلایل‌که ز تحقیق توگل‌کرد
در خانهٔ خورشید چراغان نجوم است
ای دعوی علم و عمل افسون حجابت
گرد تب وتاب نفس است این چه علوم است
طبع تو اگر ممتحن نیک و بد افتد
غیر از دهن مار جهان جمله سموم است
بی‌وضع ملایم نتوان بست ره ظلم
دیوار و در خانهٔ زنبور ز موم است
دل با دوجهان تشنگی حرص چه سازد
بریک چه بی‌آب ز صد دلو هجوم است
از عاریت هرچه بود، عارگزینید
مسرور امانات جهول است و ظلوم است
بیدل تو جنونی‌کن و زین‌ورطه به‌در زن
عالم همه زندانی تقلید و رسوم است

***

دری از اسباب ما و من به حق پیوستن است
قطره را از خود گسستن دل به دریا بستن است
سبحهٔ من ناله را با عقد دل پیوستن است
همچو مژگان سجده‌ام چشم از دو عالم بستن است
تا توانی گاهگاهی بی‌تکلف زیستن
زین تعلقها که داری اندکی وارستن است
با درشتان جز به ترک راستی صحبت مخواه
نقش را بی کج‌نهادی با نگین ننشستن است
عافیت احرامی عشاق، سعی نارساست
شعله‌ها را داغ گشتن نقش راحت بستن است
در گلستان خرام او، ز هر نقش عدم
رنگ و بوی گل کمین‌ساز ادای جستن است
الفت بعد از جدایی سخت محکم می‌شود
رشته را پیوند دشوار است تا نگسستن است
گر تامل محرم سامان این دریا شود
از تهی‌دستی گهر همچون حباب آبستن است
تا کی ای بیدرد دل را خوار خواهی دشتن
شیشهٔ داری که بر سنگش زدن نشکستن است
سعی بیدردان به باد هرزه‌گردی می‌رود
موج خون شو، ای نفس گر با دلت پیوستن است
همچو دریا بیدل آسان نیست کسب اعتبار
درخور امواج اینجا رو به ناخن خستن است

## غزل

**حضرت عطار (رح)**

دل بگسل از جهان که جهان پایدار نیست
واثق مشو به او که به عهد استوار نیست
در طبع روزگار وفا و کرم مجوی
کین هر دو مدتی است که در روزگار نیست
رو یار خویش باش و مجو یاری از کسی
کاندر دیار خویش بدیدیم یار نیست
نومید شو ز هر که توانی و هرچه هست
کامیدهای باطل ما را شمار نیست
عطاروار از همه عالم طمع ببر
کاندر زمانه بهتر ازین هیچ کار نیست

# افغان اعلانات

## اعلان اجاره دهی

شاروالی قره باغ در نظر دارد که در سال ۱۴۰۲ برج سرطان الی اخیر حوت سال جاری هده های ترانسپورتی داخل شهر را به اجاره میدهد اشخاصی که خواهش داوطلبی آنرا داتشه باشند در خواست های شانرا به شاروالی قره باغ بسپارند وخودشان از نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری جهت داوطلبی در تالار ولایت کابل حاضر باشند شرطنامه را می توانند از آمریت تدارکات ولایت کابل اخذ نموده ملاحظه نمایند تضمین بطور پیشکی اخذ میگردد.۹۴۴

***

## اعلان اجاره دهی

شاروالی قره باغ در نظر دارد که در سال ۱۴۰۲ برج سرطان الی اخیر حوت سال جاری میدان ورزشی فوتسال را به اجاره میدهد اشخاصی که خواهش داوطلبی آنرا داتشه باشند در خواست های شانرا به شاروالی قره باغ بسپارند وخودشان از نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری جهت داوطلبی در تالار ولایت کابل حاضر باشند شرطنامه را می توانند از آمریت تدارکات ولایت کابل اخذ نموده ملاحظه نمایند تضمین بطور پیشکی اخذ میگردد.۹۴۳

***

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم عبدالله فرزند میرویس یک عراده موتر پلیت ۳۹۱۶۹-۵ ش کابل نوع تویتا فروتنر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمدیگل فرزند احمد گل بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۴۸

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عبدالصبور مومند فرزند عبدالستار مومند ولدیت محمد عثمان دارنده تذکره نمبر ( ۸۷۰۹۸-۰۱۰۶-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت لوگر مالک امیتاز دواخانه نوی شکور واقع ناحیه چهارم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبدالقدیر مهمند فرزند عبدالستار مهمند ولدیت محمد عثمان دارنده تذکره شماره ( ۲۸۹۶۰-۰۸۰۰-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت لوگر گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۹۵۳

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سید نور الله فرزند سید حبیب الله ولدیت سید امیر دارنده تذکره نمبر ( ۳۰۲۹۰-۰۱۰۰-۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت لوگر مالک امتیاز دواخانه کامه وال واقع ولسوالی بگرامی ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم اسماعیل خوستی فرزند مدت شاه گل ولدیت عزت شاه گل دارنده تذکره شماره ( ۳۰۵۴۴-۱۱۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت خوست گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۹۵۷

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد عالم رحیمی فرزند رجب خان رحیمی ولدیت رحیم داد رحیمی دارنده تذکره نمبر ( ۵۱۹۱۰-۰۸۰۰-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک دواخانه حسین سادات واقع ناحیه یازدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد آصف هاشمی فرزند محمد هاشم هاشمی ولدیت میرزا محمد قاسم هاشمی دارنده تذکره شماره ( ۵۰۴۸۰-۱۱۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۹۵۶

***

## اطلاعیه به کرایه گیری

ریاست معارف شهر کابل ضرورت یک دربند حویلی کرایی ۱۰ اطاقه ضرورت مکتب متوسطه ۳۱۵ را به نشر سپرده بود یک بار دیگر به اطلاع رسانیده میشود اشخاصیکه در ساحه مکتب مذکور واقع حوزه یازدهم تعلیمی همچو تعمیر داشته باشند بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز درخواست های خویش را به مدیریت تدارکات واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمانید. ۹۵۴

***

## اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

محترم محمد اقبال فرزندپیرمحمد ولدیت نیازمحمد دارنده جواز شماره ( ۳۵۹ ) مورخ ۳/۸ / ۱۴۰۱ رهنمای معاملات نوی مولانا یعقوب چرخی واقع بازار ده دانا ناحیه ۷ شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب - وزارت عدلیه اطلاع دهند.۹۵۰

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سید حامد فرزند سید غلام سرور مفقود گردیده اعتبار ندارد.۹۶۰

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سید رامین فرزند سید یونس مفقود گردیده اعتبار ندارد.۹۵۹

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سید الیاس فرزند سید موسی مفقود گردیده اعتبار ندارد.۹۵۸

***

## اعلان داوطلبی مجدد

پروژه: تدارک و نصب پرزه جات مورد نیاز وسایط نقلیه وزارت اقتصاد بابت سال مالی ۱۴۰۲

نمبر تشخصیه:

MOEC-KBL-1402-NCB-G05- RE BID

وزارت اقتصاد، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده و یک نقل از شرطنامه پروژه را به شکل سافت کاپی بصورت رایگان از تاریخ نشر اعلان الی ۲۷ جوزا ۱۴۰۲ ساعت ۹:۵۰ قبل از ظهر ذریعه فلش دسک (Flash Disk)) بدست آورده و آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته ارائه نمایند.

تضمین آفر به صورت ضمانت بانکی از یکی از بانکهای با اعتبار داخلی مبلغ ۲۳۵,۰۰۰ دو صد و سی و پنج هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز شنبه مورخ ۲۷ جوزا ۱۴۰۲ در تهکوی تعمیر پنج منزله، وزارت اقتصاد، واقع چهار راهی ملک اصغر، مقابل وزارت امور خارجه کابل- افغانستان تدویر می گردد. درصورتیکه روز آفرگشایی از طرف حکومت رخصت اعلان گردد، در اولین روز رسمی بعدی آفرگشایی صورت خواهد گرفت. ۹۵۵

***

## اعلان دعوت به داوطلبی

{تدارک خدمات ۵۰ MB انترنت }

شماره شناسائی:(AMC/PD/NCB/1402/NCS01)

{ شورای طبی افغانستان } ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی} تدارک خدمات ۵۰ MB انترنت } شرطنامه مربوطه را در فلش دسک(حافظه) بطور رایگان از مدیریت عمومی تدارکات شورای طبی بدست آورده، و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه ؛ طبق قانون وطرزالعمل تدارکات از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز به مدیریت عمومی تدارکات ارایه نمایند. آفرهای دیر رسیده و انترنیتی پذیرفته نمیشود.

تضمین آفر مبلغ (۳۵۰۰۰/ سی و پنج هزار افغانی تضمین بانکی) وجلسه افرگشائی بعد از تکمیل ۲۱ روزتقویمی ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر دراطاق جلسات شورای طبی تدویر میگردد.

آدرس: (سرک پارک شهر نو کوچه اول عقب تعمیر شرکت MTN خانه نمبر ۱۴۷ ، شهر کابل ، شورای طبی افغانستان )

***

## اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک (۵۲) قلم البسه باب معمول وغیرمعمول باکیفیت ضرورت مدیریت عمومی ملبوسات نظامی، معاونیت تامینات تکنالوژی ولوژستیک ازبابت سال مالی۱۴۰۲.از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع دارای نمبرتشخیصیه MOD-1402-G-L0020 -22705 اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر: بشکل گرانتی بانک مبلغ(۶۹۷,۰۰۰) افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد توانمندی مالی، تضمین آفرکارمشابه وحجم معاملات وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

---

د شمال او شمال ختیځې لویې لارې په چمتله سیمه (۱۷ناحیه) کی مسافر وړونکو وسایطو لپاره په ترمینل جوړولو کې د علاقه مندۍ خبرتیا!

ټولو شرکتونو، اشخاصو او ملي سوداګرو ته خبر ورکول کیږي چې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت هېوادوالو ته د غوره ټرانسپورټي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت د پالیسیو مطابق په شخصي ځمکه او د خصوصي سکتور پر پانګونه د کابل ښار د اوه لسمې ناحیې اړوند په چمتله سیمه کې چې د کابل - مزار پر عمومي سړک موقعیت لري، کوچنیو مسافر وړونکو وسایطو ته د ترمینل د جوړېدو چارې پیلوي. هغه غوښتونکي چې لاندې اساسي اړتیاوې یې پوره کړې وي، خپلې غوښتنې دې په لیکلي ډول له نغدي تضمین سره د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مقام ته وسپاري.

شرایط:

۱ـ د شمال او شمال ختیځ ترمینل لپاره باید لږ ترلږه ۱۵ جریبه ځمکه چې د شخصي ملکیت، اجارې او یا هم د کرایې سند ولري.

۲ ـ ځمکه باید د کابل - مزار سړک لویې لارې (د خیرخانې کوتل شاته)، د کابل ښار د اوه لسمې ناحیې د چمتلې په سیمه کې موقعیت ولري.

۳ ـ پاتې شرایط او مکلفیتونه به د مسافروړونکو ترمینلونو د لارښود او د عامه، خصوصي مشارکت ماډلونو له لارې د ګټونکې شخص سره له مشورې وروسته د هوکړې په تړون کې وټاکل شي.

٤- علاقمندان دې خپل غوښتنلیکونه له ۱۴۰۲/۰۳/۰۹ – ۱۴۰۲/۰۳/۳۰ نېټې پورې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون سره په خوا کې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ته ولېږي.-

اړیکشمیره: ۰۷۸۷۸۳۸۱۹۲

تاسیسات:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د رانوتلو او وتلو دروازه | اړین | د موټرو د ترمیم ورکشاپ (مستري خونه) | اختیاري | د کارکوونکو لپاره اداري خونه | اړین | د اوبو رسولو سیستم | اړین |
| د نارینه او ښځینه جلا جلا انتظار خونې | اړین | رسټورانټ | اړین | د پیرداري ځای او احاطوي دیوال | اړین | د برېښنا رسولو سیسستم | اړین |
| تشناب (نارینه او ښځېنه) | اړین | جومات او اودس ځای | اړین | ټکټ پلورنځی | اړین | حمام، نانوایي، پلورنځي او سوپر مارکیټ | اختیاري |
| د موټرو درولو ځای | اړین | د تېلو ټانګ | اختیاري | د مسافرینو د وسایطو د نوبت لپاره سایه بان | اړین | د وسایطو د وینځلو تاسیسات (موټر شویي) | اختیاري |
| د موټرچلوونکو او مسافرینو لپاره د اوسېدو خونې | اړین | د پارکنګ انګړ هوارول او جغل اچول | اړین | د ښاري او ټکسي وسایطو لپاره د درولو ځای | اړین | | |

۹۶۳

## نرۍ دې د کلتوري میراثونو په ساتنه کې افغانستان ...

د افغانستان په سیاسي او اقتصادي پرمختګ او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په پراختیا خوښ یو.
وانګ یو د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ته د چین لخوا د افغانســتان په فرهنګي برخه کې د روانو پروژو په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې افغانســتان د تاریخي آبداتو، لرغونو ســیمو او باستاني ســیمو له امله د نړۍ یو بډایه هېواد دی، چې چین په دې برخه کې هر راز همکارۍ ته چمتو دی.
نوموړي همدا راز زیاته کړه، چې د کلتوري میراثونو ساتنه یوازې د افغانانــو دنده نه ده، بلکې نړیوالو ته په کار ده چې په دې برخه کې له افغانستان سره پوره همکاري وکړي.
پــه پای کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرســت ملا خیرالله خیرخواه د تاریخي آبداتو او باســتاني سیمو په ساتنه او بیارغونه کې د چین لــه همکارۍ مننه وکــړه، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر لا پراختیا یې ټینګار وکړ.
خیرخــواه زیاته کړه، چــې د هېواد د تاریخي میراثونو ســاتنه د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لومړیتوبونو څخه ده .
نوموړي له هغو هېوادونو او ســازمانونو مننــه وکړه، چې په دې برخه کې له یاد وزارت سره همکاري کوي.

## نصب ٤٤ پایه آنتن مخابراتی جدید در پنج ...

می‌شوند که مردم به خدمات مخابراتی دسترسی ندارند.
به گفته‌ی او، تا کنون ســه آنتن در سه ولسوالی قوشتپه و درزآب در جوزجان و البرز در بلخ نصب شــده و نصب ٤١ پایه آنتن دیگــر در مدت دو ماه آینده تکمیل خواهد شد.
این در حالی اســت که در بیســت ســال گذشته بیشتر ولسوالی‌های دور دســت در شمال به خدمات مخابراتی دسترسی نداشتند.

## د وسپنې پټلۍ له لارې نږدې ۴۲۸ زره ...

تېره میاشــت د حیرتان، اقینې او تورغونډۍ لــه لارې ۴۲۷ زره ۵۹۵ متریک ټنه توکي لېږدول شــوي دي. په یاد توکو کې ۳۰۷۰ ټنه توکي صادر شــوي، چې لویه برخه یې وچه میوه او نور توکي دي. د افغانستان د وسپنې پټلۍ ملي اداره وایي دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښــه والي لپاره هڅه کوي او موخه یې دا ده چې د هېواد سوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## ۹ زره هکتاره ځمکه له کوکنارو ...

مبــارزې معینیــت زیاتوي، تــر دا مهاله یې څه بانــدې ۷ زره تــورن کســان نیولــي او شــاوخوا ۹ زره هکتــاره ځمکه یې د کوکنارو له کښــته پاکه کړې ده. ورته مهال یو شــمېر کروندګر زیاتــوي، حکومت باید بزګرانو تــه د کوکنارو د کرلو د مخنیوي لپاره بدیل معیشــت ورکړي. د کورنیو چارو وزارت د نشــه یي توکو پــر وړاندې د مبــارزې معینیت د اطلاعاتو پر بنســټ، د اســلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیســې د نشــه یــي توکو د کښــت او قاچاق د مخنیوي په موخه څه باندې ۶ زره عملیات تر ســره شــوي چې په پایله کې یــې ۴ زره ټنه نشــه يي توکي نیول شوي دي.

## پکتیا کې د یو سړک د جوړولو چارې پیل ...

په موده کې بشپړې شي.
د مسوولینو په خبره، په دغه پروژه کې لسګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې، چې هره ورځ ورته ۴۰۰ افغانۍ ورکول کېږي.
د یادونې ده چې د پاملرنې موسسې په مالي ملاتړ د پکتیا په زرمت او لجه منګل ولسوالیو کې هم د استنادي دېوالونو یوه پروژه پلي شوه، چې په نږدې وخت کې به ګټې اخیستنې ته ورسپارل شي.

## برای ده‌ها کودک در هرات زمینه آموزش...

فن و حرفه زمینه آموزش خیاطی را فراهم کرده است.
ارشاد می افزاید، این بنیاد در بخش‌های آموزشی، فن و حرفه، شفا، ارتقای ظرفیت وغیره فعالیت می‌کند.
از ســوی دیگر مولــوی عبدالناصر خادم آمــر نظارت معارف ولسوالی غوریان می‌گوید این ولسوالی از هر فعالیت و تلاش موسسات و بنیادها که خواستار ارتقای ظرفیت و کمک به این ولسوالی باشد حمایت نموده و همکاری می‌کنند.
با این حال بزرگان قومی در این ولســوالی هر گونه اقدام جهت پیشــرفت در غوریــان حمایــت همه جانبه خویــش را اعلام کردند.

## جذب شماری از جوانان داوطلب پنجشیری به...

روز گذشــته در تویتی گفت که قوماندانی عمومی جلب و جذب در پنجشــیر روند جذب پنجــاه و نه جوان در صفوف اردوی ملی اسلامی را تکمیل کرده است.
مولوی ســحرگل حقبین رئیس ارکان قوماندانی جلب و جذب اظهار امید واری کرد که جوانان تازه جذب شده در دفاع از مقدسات اسلامی، حفظ استقلال و اطاعت از رهبران خود تلاش خواهند کرد.

## ګرځندویي د عوایدو له ښو سرچینو ...

وزارت د خپرونــو مرســتیال مولوي مهاجر فراهــي غزني ته د خپل ســفر په لړ کې، ګرځندویي د نړۍ په کچه د عوایدو له ښو ســرچینو څخه یاد کړ او زیاته یې کړه چې اړتیا ده تر څو د هېواد له تاریخي او سیلاني سیمو څخه مؤثره ګټه واخیستل شي.

## آغاز بررسی خسارات به جامانده ...

با جمعی از خبرنگاران به محلات آســیب پذیر رفته و از نزدیک وضعیت را بررسی کردند.
مولوی مظلوم‌یار هم‌چنان گفت «بررســی‌های اولیه انجام شده، خســارات مالی وارده از اثر ســیلاب‌ها در اکثریت روستاهای ولسوالی‌های پسابند و تیوره به مردم را هنگفت نشان می دهد». این سیلاب‌ها اکثریت زمین‌های زراعتی، کانال‌های آب گردان، اشــجار، مواشی و خانه‌های مردم را یا نسبی ویا کلی تخریب کرده است. مظلوم یار همچنان گفت که آنان در محلات آســیب پذیر در حال بررســی هســتند و به زودی آمار نهایی آســیب دیدگی، مشخص می‌شــود. از سویی هم باشــنده‌گان مناطق آسیب پذیر از ســیلاب‌ها می‌گویند که تمام دار و ندار شان را سیلاب‌ها از بین برد و به مشــکلات جدی و فراوانی دست و پنجه نرم می‌کنند.
آنان از امارت اسلامی و اداره محلی غور می‌خواهند که به مشکلات شان هرچه عاجل رسیدگی شود.
با این حال، اداره‌ی محلی غورمی گوید که پس از بررسی ها، روند کمک رسانی به آسیب دیدگان بیشتر خواهد شد.

## ایجاد نمایندگی‌های هلال احمر افغانی ...

نزد هلال احمر افغانی حق مردم اســت، هر زمانی که ما کمک دریافت می کنیم، به جای ذخیره کردن، مســتقیماً آن را به نیازمندان می‌رســانیم، اما به دلیل کمبود مواد، تا هنوز نتوانستیم که به همه نیازمندان رسیدگی کنیم.
وی گفت که ما نگران این بودیــم که چگونه نیازمندان واقعی که در مناطق دور افتاده زندگی می‌کنند از چشمان کارمندان و رضاکاران ما پناه هســتند، پیدا کنیم؛ بنابر این گام برداشتیم تا نمایندگان هلال احمر افغانی را در جامعه ایجاد کنیــم. او افزود: پس از ایجــاد نمایندگان هلال احمر افغانی در جامعه، مســؤلیت به آنها راجع می‌شود تا نیازمندان واقعی در مناطق خودشــان دریافت و آن را بــه هلال احمر افغانی از روی روحیه خدمت مشــترک معرفی نمایند . مولوی خالص همچنان گفت: «برای حل مشکلات مردم ولایات جنوبی، مرحله آزمایشی کودکان مبتلا به بیماری سوراخ قلبی را در قندهار آغاز کرده‌ایم، تــا فرزندان مردم هلمند، زابل و ارزگان به جای رفتن به کابل، در اینجا توســط هلال احمر افغانی به طور رایگان معالجه شــوند. مولوی فخرالدین نعمانــی و مفتی امیر حمزه به نمایندگی از شرکت کنندگان در نشست گفتند: ما به رهبری هلال احمر افغانی اطمینان کامل می‌دهیم که آماده‌ی خدمت به مردم خود هستیم و به طور کامل غیر جانبدارانه خدمات محوله را انجام خواهیم داد.

## د کوکنارو بدیل کښتونه په حاصلاتو ...

په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د ننګرهار ولایت په څلورو ولســوالیو کې د ســتروس باغونو جوړولو پروژه پیل کړه، دا باغونه یې په هغو ځمکو کــې جوړ کړل چې پخوا کوکنار پکــې کرل کېدل. اوس د درېیــو کالو په تېرېدو ســره دا باغونه حاصلاتو ته رسېدلي او باغوانان یې له حاصلاتو څخه خوښ دي. ننګرهار د افغانســتان له هغو ګرمسېرو یا تودو ولایتونو څخه دی چې زارعتي ځمکې یې د ستروس د باغونو لپاره ډېرې مناسبې دي او په وروستیو کلونو کې یې د مالټو، نارنجو او لیمو صادرات هم درلودل. له بلې خوا، په کندهار ولایت کې هــم بزګران د خپلو زراعتي حاصلاتو په اړه خوښي څرګندوي.

# د زابل د تراسپورټ په عوایدو کې زیاتوالی راغلی

د زابل د ترانســپورټ مدیریت مســوولین وایي، چې د تېرو میاشتو په پرتله یې د اوني عواید زیات شوي دي.
د دغه ولایت د ترانســپورټ مدیر مولوي اسدالله شمشاد وویل، چې د اســلامي امارت په راتګ ســره د دې ادرې عواید د پخوا په پرتله ۵۰ سلنه زیات شوي.
شمشــاد زیاته کړه، چې پخوا یې میاشــتني عواید له ۱۳۰ - ۱۴۰ زره افغانۍ وو، چې اوسمهال یې میاشــتني عواید ۱۷۰ زره افغانیو ته لوړ شــوي دي. نوموړي د عوایدو د زیاتوالي لامل شــفافیت او د عایداتي سرچینو زیاتوالی ښــیي او وایي، چې مخکې یوازې یو بندر درلود خو اوس یې څلور نوې هډې هم فعاله کړې دي.

# جوزجان کې سلګونه کیلو ګرامه خرابه غوښه را ټوله کړل شوه

د شبرغان ښــاروالۍ ریاست مســوولین وایي چې په دغه ښار کې له دوو رســتورانتونو څخه ۴۵۳ کیلو ګرامه خرابه غوښه د ښاري تنظیم او اصلاح کمېټې له لوري راټوله کړل شوه.
د جوزجان د اطلاعاتو او فرهنګ رییس مولوي ســیف الدین معتصم چې د شبرغان ښــار د ښــاري تنظیم او اصلاح کمېټې مسوولیت هم په غاړه لري ، چې دغه غوښــه د شبرغان ښــار په دوو رستورانتونو کې موجوده وه، چې د عامې روغتیا او ښاروالۍ ریاست په همکاري تثبیته او یو مناسب ځای ته د ښخېدو لپاره ولېږدول شوه.

## ملي تدارکاتو کمېسیون د نهو پروژو ...

په خپرولو ســره ویلي چې په دې غونډه کې له اجنډا ســره ســم، پر ۲۴ پــروژو مفصل بحث وشــو چــې د نهــو پــروژو قراردادونه یې منظــور، د دوو پــروژو قراردادونه لغــوه او د پاتې نورو پــروژو په اړه ګډو کمېټو ته دنده وســپارل شــوه، چــې تخنیکي ارزونه یې ترســره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېســیون راتلونکــې غونډې ته وړاندې کــړي. پــه منظور شــویو پــروژو کــې د کانونــو او پټرولیــم، لوړو زده کــړو، ټولګټــو او د پوهنــې وزارتونــو، د افغــان ملــي بانک، د افغانســتان برېښــنا شــرکت او د کابل ښــاروالۍ ېلابېلــې پروژې شــاملې دي چــې ټولیز ارزښــت یــې ســلګونو میلیونــو افغانیو ته رسېږي.

## ترکمنستان کې د اسلامي امارت تجارتي آتشې ...

ټینګار وکړ او له سوداګرو او پانګوالو یې مننه وکړه.
فضل محمد صابر په افغانستان کې له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ په اړه د افغانســتان اسلامي امارت د ستر پروګرام یادونه وکړه او په دې برخه کې یې د افغانســتان په دولتي شرکتونو کې د پانګونې د فرصتونو لېست اعلان کړ.
په عشق آباد کې مېشتو افغان ملي سوداګرو هم خپله لېوالتیا وښوده او یادونه یې وکړه، چې دا لومړی ځل دی، چې په دولتي کچه له موږ سره دا ډول فرصتونه شریک شوي، څو په کې پانګونه وکړو.

## پر افغـان بندیانو دې د اعدام حکم و ...

د وروستۍ غونډې په اړه د ایران اسلامي جمهوریت د موقف په اړه معلومات وړاندې کړل او یادونه یې وکړه، چې د ایران هیئت په دغه غونډه کې د افغانستان له وضعیت او موجوده صورت حال څخه دفاع وکړه.
هغه همدا راز د افغانستان او ایران تر منځ د دواړو خواوو په همغږۍ او د سرحد پــه مدیریت ټینګار وکړ او د خپل حکومت د وروســتیو اقداماتو په اړه یې لنډ معلومات وړاندې کړل.
ورته مهال د بهرنیو چارو وزارت سرپرســت مولوي امیرخان متقي د دوحې په غونډه کې د ایران اسلامي جمهوریت د ملاتړ د هر کلي ترڅنګ د دواړو لوریو پر ښو اړیکو ټینګار وکړ. ښاغلی متقي د افغان بندیانو د انتقال بهیر په بیاپیلولو، پر اعدام محکوم بندیانو د اعدامولو ځنډولو او افغان اتباعو ته د ویزو پر تسهیل هم خبرې وکړې. د بهرنیو چارو وزیر پر دې ســربېره یادونه وکړه چې د دواړو لوریو تر منځ مسئایل د دوه اړخیزه خبرو او تفاهم له لارې ښه حل کېدای شي. په دغه غونډه کې د هلمند په سیند کې د ایران د حقابې تأمین ترڅنګ په نورو دوه اړخیزو مسایلو هم خبرې شوې دي.

## قبل از وقوع حوادث، حوادث را ...

ارائه کمک‌های لازم به آسیب دیدگان هستند و اداره‌های دولتی این نهاد نیز با امکانات دست داشته به کمک مردم شتافته اند.
حوادث طبیعی به ویژه سیلاب‌ها یکی از آفات و بلاهای است که همه سال از مردم افغانستان قربانی می‌گیرد، زیرا فقر فزاینده و عدم آگاهی مردم از حوادث طبیعی در این کشور باعث شده که میکانیزم مقابله با حوادث طبیعی در افغانســتان، همواره بعد از وقوع حادثه به منظور نجات جان قربانیان باشــد، چون کمتر اتفــاق افتاده که حوادث طبیعی در این کشــور قبل از وقوع آن پیش‌بینی شــود و یا برنامه‌ی لازم برای جلوگیری از وقوع آن و یا اقدامی برای کاهش میزان خســارات و خطرات آن صورت گرفته باشد.
آســیب‌پذیری مردم افغانستان در برابر حوادث طبیعی به لحاظ اقتصادی و فقر، بیش‌تر اســت و دامنه‌یی فقر و تنگدســتی در جامعه ما نیز به حدی افزایش یافته که حالا برای شهروندان جز زنده ماندن و داشتن سرپناه، چیزی دیگر معیار و ملاک نیست، روی این اساس است که بخاطر اعمار منازل و یا حداقل سرپناه، بدون اندک توجهی به موقعیت آن، اقدام به ساخت و ساز منازل خودســر می‌زنند که بعد از سرازیر شدن سیلاب‌ها طبعاً منازلی که در مســیر سیلاب‌ها قرار دارند تخریب می‌شوند و یا با تغییر مسیر سیلاب زمین‌های زراعتی تخریب و یا هم آسیب می‌بینند.
بنــا بر این نهادهای مســوول باید در هماهنگــی با هم مناطق ســیل خیز را سروی جدی و همه‌جانبه نمایند و مناطقی که در مســیر سیلاب‌ها قرار دارند را از سکنه تخلیه و یا هم دیوارهای استنادی اعمار کنند، زیرا سیلاب‌ها از نظر تلفات جانی و هم از نظر خســارات مالی مهیب‌ترین آفت طبیعی در جهان محسوب می‌شــوند که باید مانند یک ســونامی خاموش، قبل از وقوع به آن توجه کرد.
هر چند روش مــورد اطمینان برای این‌که پیش‌بینی شــود که ســیلاب چه زمانی به وقوع می‌پیوندد و ابعاد آن در چه مقیاس اســت وجود ندارد، اگر وجود هم داشــته باشد ، قابل اطمینان چندان نیســت، اما به خاطر این‌که بتوانیم تا حدی سیلاب‌ها را مهار کنیم، باید این مســایل را مورد نظر داشــته باشیم، احداث ســیل بندها، سدها، حفر مخازن و کانال‌ها، ایجاد جنگلات و یا هم باز گذاشــتن مسیر سیلاب‌ها و جلوگیری از اعمار منازل در این مسیرها که می‌شود با رعایت این گزینه‌ها تلفات و خسارات را به حداقل آن برسانیم

## گشایش شفاخانه‌ی درمان معتادین...

معتادان مبدل کرده است.
داکتر رســول خان نظری رئیس صحت عامه‌ی غزنی می‌گوید که فعالیت این شفاخانه، روند درمان معتادان به مواد مخدر را تسریع می‌نماید.
به اساس آمار ارائه شده، در حال حاضر، هفده هزار و پنج صد تن، از جمله زنان و کودکان درغزنی، معتاد به مواد مخدراند. درغزنــی، چندین مرکز، به خصوص شــفاخانه‌ی مرکزی این ولایت، ویژه‌ی درمان معتادان است.

## برای بازاریابی به محصولات داخلی...

امارت اسلامی با تعدادی از فعالین اقتصادی و متنفذین دیدار کرد.
در این دیدار، ابتدا حاجی اسحاق و حاجی محمد آصف به نمایندگی از دیگران صحبت کردند و فراهم شــدن زمینه بــرای هر نوع فعالیت اقتصادی و تأمیــن امنیت جانی و مالی برای همه اقشــار جامعه را از موضوعات مهم خواندند که خوشبختانه توسط امارت اسلامی برآورده گردیده اســت. آنان که اکثریت شــان دارای فارم‌هــای پرورش ماهی اســتند، از مسؤلان امارت اسلامی خواستند تا در زمینه‌ی بازاریابی به محصولات شان همکاری کنند.
مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء امارت اسلامی ضمن ابراز خرســندی از دیدار با متنفذین و فارم داران ماهی، فعالیت آنان را برای شکوفایی اقتصادی کشور مهم خواند.
مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء افزود که امارت اسلامی در راستای رسیدن به توسعه و فراهم نمودن رفاه برای هموطنان ما از هر نوع ســرمایه گذاری و تجارت مشــروع حمایت و اســتقبال می‌کند.
مولوی حنفی در خصوص پیدا نمودن بازار برای محصولات فارمداران، گفت که امارت اسلامی در حد امکانات دست داشته خود در قسمت پیدا نمودن مارکیت با آنان همکاری خواهد کرد.

## پکتیا کې ۱۵۰ سیمه ییز ټولګي...

ریاســت تر څار لاندې د یادو مؤسســو لخوا د مرکــز ګردېز په ګډون احمدآبا، زرمت، ســیدکرم او روحاني بابا ولسوالیو کې جوړېږي، چې د ښــوونکو ګمارنې پروسه یې په بشــپړېدو ده، چې سلګونو نجونو او هلکانو ته به د زده کړو زمینه برابره شي.
خالد زیاته کړه، چې له همکارو موسســو څخه یې د نورو ورته ســیمه ییزو ټولګیو د جوړېدو غوښــتنه هم کړې ده. د یادو ولســوالیو خلک د دغو سیمه ییزو ټولګیو جوړېدو ته خوښي ښیي او وایي چې دې سره به په ولسوالیو کې زده کوونکو ته د لومړنیو زده کړو ښه زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده، چې په دې ټولګیو کې زده کوونکو ته قرطاســیې، کتابونه او د ښوونکو معاشونه هم د یادې موسسې لخوا ورکول کېږي.

## جان باختن ۶ تن در یک رویداد...

به‌گفته‌ی او، شش سرنشین این موتر جان باخته و دو نفر دیگر سخت زخمی شده‌اند. شاهدان عینی می گویند، سرنشینان موتر همه جوانانی بودند که به تفریح می‌رفتند.
حادثه‌های ترافیکی در کنار ســایر رویدادهای طبیعی، سالانه جان صدها نفر را در افغانســتان می‌گیــرد و صدها زخمی و معلول برجای می‌گذارد.
خرابــی جاده‌ها، تیزرانــی و عدم رعایت قوانیــن ترافیکی از عوامل حادثه‌های ترافیکی دانسته می‌شود.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Sunday 28 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 189


د ناروې د پناه غوښتنې شورا:

# د اروپايي ټولنې سفیران دې بېرته افغانستان ته ستانه شي

د ناروې د پناه غوښتنې شورا مشر د اروپايي ټولنې له سفیرانو غواړي چې بېرته افغانستان ته ستانه او له اسلامي امارت سره تعامل وکړي.

ین اګلنډ له طلوع نیوز سره په مرکه کې ویلي، په ډیپلوماسۍ کې رژیمونه او حکومتونه په رسمیت نه پېژندل کېږي؛ بلکې هېوادونه په رسمیت پېژندل کېږي او دغه شورا افغانستان په رسمیت پېژني. نوموړی دغه راز وايي، اوسني وضعیت ته په پام سره، افغانستان یوې سیاسي هوکړې ته اړتیا لري او له همدې امله اړتیا ده، څو یو ټولګډونه حکومت جوړ شي. د ده په باور، په کندهار کې د اسلامي امارت له ځینو چارواکو سره په کتنو کې یې درک کړې ده چې په نږدې راتلونکي کې به د ا.ا له لوري د یوې نوې کړنلارې په صادرېدو سره، په افغانستان کې د ښځو پر زده‌کړو او کار لګول شوي بندیزونه لرې، کړي. اګلند په افغانستان کې بشري مرستو ته په اشارې سره وايي، یو شمېر مرستندویو بنسټونو د نجونو پرزده کړو او د ښځو پر کار د بندیز له امله خپلې مرستې سیاسي کړې دي.

مولوی عبدالسلام حنفی:

# برای بازاریابی به محصولات داخلی تلاش می‌نماییم



معاون اداری ریاست الوزراء در دیدار با تعدادی از فعالین اقتصادی، متنفذین و سرمایه‌گذاران گفت که: امارت اسلامی در حد امکانات دست داشته‌ی خویش در قسمت پیدا نمودن مارکیت برای محصولات داخلی تلاش می‌نماید.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا با نشر این خبر گفته است: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ... ص۷

# آغاز بررسی خسارات به جامانده از سیل در غور



گروه ویژه‌ی اداره محلی غور، در حال بررسی خسارات بجا مانده از سیلاب‌های ویرانگر اخیر در آن ولایت است.

بعد از سرازیر شدن سیلاب‌های شدید در فیروزکوه مرکز غور و ولسوالی‌های پسابند و تیوره، کمیته‌ی حالت اضطراراین ولایت، تیم‌هایی را جهت بررسی از وضیعت آسیب‌دیده‌گان به محلات سیلاب‌زده فرستاده تا آسیب‌دیده‌گان را از نزدیک شناسایی و خسارات وارد شده را بررسی کنند.

مولوی مولاداد مظلوم‌یار رئیس هیئت به آژانس باختر گفت»طبق فیصله نشست کمیته اضطرار اداره محلی، در رأس یک هیئت از ادارات سکتوری ... ص۷

فراهي:

# ګرځندويي د عوايدو له ښو سرچينو څخه ده

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو مرستیال مهاجر فراهي غزني ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له یو شمېر تاریخي آبدو او لرغونو سیمو څخه لیدنه وکړه.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو مرستیال مهاجر فراهي په غزني کې له حکیم سنائي او بهلول دانا مقبرو د غزنویانو له تاریخي منارونو، بالاحصار او نظامي موزیم څخه لیدنه وکړه، د تاریخي آبدو او لرغونو سیمو په ښې ساتنې او پالنې یې ټینګار وکړ.

فراهي د هېواد تاریخي آبدې او لرغونې سیمې معنوي ارزښت، تاریخي هویت او د افغانستان ملي شتمنې وبللې او ساتنه یې د ټول ملت دنده وبلله.

د اطلاعاتو او کلتور ... ۷مخ

# ایجاد نمایندگی‌های هلال احمر افغانی در ولایات جنوبی

سرپرست هلال احمر افغانی در افتتاح نشست نمایندگان هلال احمر در قندهار گفت که ما نگران این بودیم که چگونه نیازمندان واقعی که در مناطق دور افتاده زندگی می‌کنند از چشمان کارمندان و رضاکاران ما پناه هستند، پیدا کنیم؛ بنابر این گام برداشتیم تا نمایندگان هلال احمر افغانی را در جامعه ایجاد کنیم.

دفتر مطبوعاتی هلال احمر افغانی با نشر این خبر گفته است: مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی که در نشست افتتاح نمایندگان هلال احمر افغانی در قندهار سخن می‌گفت اظهار داشت که مواد موجود ... ص۷

# د کابل د دروازو کنډک منسوبینو ګڼ شمېر وسلې نیولې دي

د کابل امنیې قومندانۍ اړوند د دروازو کنډک امنیتي منسوبینو په تېرو دوو میاشتو کې ګڼ شمېر وسلې او یو تن د قتل په تور نیولی دی.

دغې قومندانۍ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د یادې قومندانۍ اړوند د دروازو کنډک امنیتي منسوبینو په یاده موده کې ۱۸ میله بېلابېل ډوله وسلې، څلور پایې مخابرې، لاسي څراغونه، یو شمېر ګولۍ او ځینې نور نظامي وسایل کشف او ترلاسه کړي دي.

یادې قومندانۍ د دغو وسلو او مهماتو په تړاو د کوم چا د نیولو په اړه څه نه دي ویلي.

# پکتیا کې ۱۵۰ سیمه ییز ټولګي جوړېږي



د پکتیا پوهنې ریاست مسوولین وايي چې د یونیسف اداري په مالي ملاتړ په مرکز ګردېز او څلور ولسوالیو کې د۱۵۰ لومړنیو سیمه ییزو یا محلي زده کړو ټولګي جوړېږي چې په نږدې ورځو کې به د تدرېس چارې په کې پیل شي.

د دغه ولایت د پوهنې رئیس مولوي عبدالوکیل خالد وویل، چې دا سیمه ییز ټولګي د پوهنې ... ۷مخ

د روغتیا نړیوال سازمان استازی:

# له افغانانو سره د مرستې لپاره نړیوال مشارکت کلیدي رول لري

د افغانستان لپاره د روغتیا نړیوال سازمان استازی وايي، له افغانانو سره په روغتیایي برخه کې د مرستې لپاره نړیوال مشارکت کلیدي رول لري. لاو ډاپینګ پرون ویلي، د روغتیا نړیوال سازمان تیار دی چې په افغانستان کې اړو کسانو ته د روغتیایي خدماتو د رسولو د مشرۍ رول پر غاړه واخلي.

هغه ویلي، د دې سازمان څه باندې ۵۰ شریکان یې د افغانستان له خلکو سره د روغتیایي مرستو لپاره هڅولي دي. د روغتیا نړیوال سازمان د شمېرو له مخې په افغانستان کې ۱۷ میلیونه او ۶ لکه کسان روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري او د دغو خدماتو لپاره څه باندې ۱۸۸ ملیون ډالرو ته اړتیا ده.

# د کوکنارو بدیل کښتونه په حاصلاتو راغلي



په ننګرهار او کندهار ولایتونو کې هغه نیالګي او اصلاح شوي تخمونه چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ بزګرو ته د کوکنارو د بدیل کښت په نوم ورکړل شوي و، تر درېیو کالو وروسته حاصلاتو ته رسېدلي دي. د ملګرو ملتونو له نشه يي موادو او جرمونو سره د مبارزې ادارې ... ۷مخ

# البرز ولسوالۍ کې د اوبو رسولو شبکه جوړېږي

د شمال زون د اوبو رسولو ریاست مسوولین وايي چې د بلخ ولایت د البرز ولسوالۍ د اوسېدونکو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه د اوبو رسولو شبکه جوړوي. د هېواد د شمال زون د اوبو رسولو ریاست مسؤلین وايي چې ډېر ژر به د البرز ولسوالۍ د یو شمېر اوسېدونکو لپاره د اوبو رسولو شبکه جوړه شي، چې په دې کار سره به سلګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شي. د یادونې وړ ده چې د البرز ولسوالۍ د بلخ ولایت یوه له هغو ولسوالیو څخه ده چې د اوسېدونکو د غوښتنې او د پراخ مساحت او نفوس له کبله له چمتال څخه جلا او د یوې خپلواکې ولسوالۍ په توګه نوې جوړه شوې ده.

# بازداشت یک گروه سارقین مسلح از میدان وردک

یک گروه چهار نفری سارقین مسلح در میدان وردک بازداشت شدند.

این افراد، در شاهراه کابل - قندهار، دست به دزدی و راهزنی می‌زدند.

مسوولان امنیتی می‌گویند که: این افراد دیروز، درست هنگامی بازداشت شدند که سی و هشت هزار افغانی، پول یک مسافر به نام حاجی محمد شرف ربوده بودند.

# فراه کې پر ۸۰۰ زده کوونکو قرطاسیې او روغتیایي کڅوړې ووېشل شوې

د فراه د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د ګلستان ولسوالۍ د ۱۲ ښوونځیو پر نږدې ۸۰۰ زده کوونکو کتابونه، قرطاسیې او روغتیایي کڅوړې ووېشل شوې.

د دغه ولایت د پوهنې رییس مولوي اختر محمد زعیم وویل، چې د یادو ښوونځیو پر ۷۶۷ زده کوونکو کتابونه، قرطاسیې او روغتیایي کڅوړې ووېشل شوې، چې په کې د کتابونو او قرطاسیو سربېره روغتیایي توکي هم شامل دي.

ورته مهال د ګلستان ولسوالۍ د پوهنې آمر مولوي لعل محمد رحماني د یادې مرستې له وېش د مننې ترڅنګ دې ته ورته د نورو مرستو د دوام غوښتنه هم وکړه.

# جان باختن ۶ تن در یک رویداد ترافیکی



در پی واژگون شدن یک موتر نوع سراچه در شاهراه کابل–جلال آباد، بیش از ۸ نفر کشته و زخمی شده اند.

این حادثه روز (جمعه، ۵ جوزا) حوالی ساعت ۲:۰۰ پس از چاشت در منطقه‌ی پلچرخی کابل رخ داده است.

به گفته شاهدان عینی، یک موتر نوع سراچه به‌دلیل سرعت زیاد، از جاده منحرف و به رودخانه سقوط کرده است. ص۷

# ۳۰ تنه د جنايي جرمونو په تور نیول شوي

کورنیو چارو وزارت په کابل، هرات، خوست، جوزجان او کندهار ولایتونو کې د جنايي جرمونو په تور د ۳۰ کسانو د نیولو خبر ورکړی دی.

دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې یادو کسانو له ډلې ۱۱ تنه په هرات کې د غلا او اخلاقي فساد په تور، ۷ تنه په کابل کې د غلا او جعل کارۍ په تور، ۵ تنه په خوست کې بېلابېلو جرمونو په تور، ۶ تنه د جوارګرۍ په تور جوزجان کې او یو کس هم په خوست کې د ۲۰۰ زره کالدارو د غلا په تور نیول شوی دی.

د یادونې وړ ده، چې دغه وزارت له دې وړاندې هم په بېلابېلو ولایتونو د جنايي جرمونو په تور د لسګونو کسانو د نیولو خبر ورکړی و.


توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!